DA AFGHANISTAN BANK

# بانک The Bank

میاشتنۍ | Monthly | ماهنامه

۲۳۰ گنه - ۱۴۴۸ ربیع الاول - ۱۴۰۵ وږی



# جذب صدها میلیون دالر

## سرمایه گذاری خارجی؛ دستاورد سیاست اقتصاد محور

## امارت اسلامی افغانستان

# د مندرسو بانکنوټونو بېلګې

## هغه بانکنوټونه چې لاندې ذکر شوې ځانګړتیاوې ولري، مندرس بانکنوټونه ګڼل کیږي او د بدلېدو وړ دي:



۱– هغه بانکنوټونه چې د کارونې له امله یې ظاهري بڼه تر ډېره حده بدله شوې وي.



۲– هغه بانکنوټونه چې یوه برخه یې خیرې شوې وي.



۳– هغه بانکنوټونه چې زیات لیکل پرې شوي وي چې له امله یـې د بانکنوټ ظاهري بڼه بدله شوې وي.



۴– هغه بانکنوټونه چې امنیتي نښـې یې په بشـپړه توګه له منځه تللې وي خو اصلیت یې د پېژندلو وړ وي.



۵– هغه بانکنوټونه چې د زیاتې استفادې له امله ډېر زاړه / مړاوي شوي وي او د نوټ شمېرنې په ماشینونو کې د شمېرلو وړ نه وي.



۶– هغه بانکنوټونه چې ډېرې خیرې شوې برخې ولري او په ډېرو برخو یې سکاشټیپ لګیدلی وي.

گران هېوادوال کولای شي چې په مرکز او ولایتونو کې دا ډول بانکنوټونه د افغانستان بانک او د ټولو سوداګریزو بانکونو نمایندګیو ته وسپاري او په بدل کې یې سالم بانکنوټونه ترلاسه کړي.

له ستونزو سره د مخ کېدو په صورت کې تاسو کولای شئ چې خپل شکایت مو د info@dab.gov.af او customer.protection@dab.gov.af برېښنالیکونو، د ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ او ۰۲۰۲۱۰۴۱۴۶ ټلیفون شمېرو او یا د ۹۳۷۹۸۷۰۳۷۵۵+ وټس اپ شمېرې له لارې د افغانستان بانک د مالي پېرېدونکو د حقونو له برخې سره شریک کړئ. ستاسو شکایت ته ژر تر ژره رسېدنه کیږي.



بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمیـن و الصلوة و السلام علی
سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین


**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**



- د افغانستان بانک له دریبو زونونو راټول شوي ۶۶۰.۲ میلیونه افغانۍ مندرس بانکنوټونه وسوځول ۱
- د افغانستان د ډیجیټلي مالي خدمتونو د پراختیا فرصتونه او د کاروني ټاکونکي عوامل ۲
- مواد خام؛ آنچه سرنوشت اقتصاد جهان را رقم می زند ۶
- مالي سواد، سپما او پانګونه: د فرد او ټولنې د اقتصادي پیاوړتیا بنسټونه ۹
- په افغانستان کې د کلیوالي اقتصاد فرصتونه او ننګونې ۱۲
- جذب صدها میلیون دالر سرمایه گذاری خارجی؛ دستاورد سیاست اقتصاد محور ... ۱۵
- ډیجیټلي زېربناوې ۱۸
- اقتصادي خبرونه ۲۳
- د چټکو اداینو سیستمونه څنګه اقتصادي وده او مالي شمولیت پیاوړی کوي ۲۵
- Driving Fiscal Efficiency through Digitalization and Transparent Procurement ۳۱



**مسئول مدیر: انور الله حیات**

**خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالقیوم عالم**

**ډیزاین: خالد احمد فیضي**

**فوټوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: نولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸

ټیلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

۲۳۰



د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube twitter.com/AFGCentralbank www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک له درېیو زونونو راټول شوي ۶۶۰.۲ میلیونه افغانۍ مندرس بانکنوټونه وسوځول

کابل – د ۱۴۴۸ کال د ربیع الثاني ۲مه د افغانستان بانک د هېواد د پولي نظام د سالم مدیریت او په راکړو ورکړو کې د لا آسانتیا او ډاډمن چاپېریال د رامنځته کولو په موخه، له مرکزي زون، جنوب ختیځ زون (ګردیز) او ختیځ زون (ننګرهار) څخه راټول شوي د ٦٦٠،٢٠٠،٠٠٠ (شپږ سوه شپېته میلیونه او دوه سوه زره) افغانیو په ارزښت مندرس بانکنوټونه وسوځول.

یاد بانکنوټونه د افغانستان بانک د دویم مرستیال، ښاغلي ملا محمد آخند په مشرۍ د ګمارل شوي پلاوي تر څارنې لاندې، له دقیقې شمېرنې، ارزونې او کنټرول وروسته وسوځول شول. په سوځول شویو بانکنوټونو کې د ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ او ۱۰۰۰ بانکنوټونو انواعیې شاملې وې.

د افغانستان بانک دویم مرستیال، ښاغلي ملا محمد آخند، د یادو بانکنوټونو د سوځولو پر مهال وویل چې د افغانستان بانک هڅه کوي څو د هېوادوالو لپاره د راکړو ورکړو بهیر لا آسان، خوندي او باوري شي.

نوموړي زیاته کړه چې د افغانۍ د ارزښت او اعتبار په ساتلو کې د خلکو ونډه هم ډېره مهمه ده. هر هېوادوال کولای شي د بانکنوټونو په سمه ساتنه او له هغو څخه په سمه توګه د ګټې اخیستنې له لارې د افغانۍ د ارزښت او اعتبار په ساتلو کې مرسته وکړي.

د بانکنوټونو له قاتولو، څیرولو او پرې له لیکلو ډډه کول، په بټوې کې یې ساتل او د راکړو ورکړو پر مهال له هغو څخه سمه استفاده کول هغه ساده لارې دي چې د بانکنوټونو د ژر زړېدو مخه نیسي او د هغوی د عمر په اوږدولو کې مرسته کوي.

د افغانستان بانک وخت په وخت مندرس بانکنوټونه له بازار څخه راټولوي، پر ځای یې نوي بانکنوټونه بازار ته عرضه کوي او راټول شوي مندرس بانکنوټونه له منځه وړي.

د یادونې وړ ده چې دا مندرس بانکنوټونه د عدلیې او مالیې وزارتونو او امنیتي ادارو د استازو په شتون کې، له لازمې شمېرنې او کنټرول وروسته، د ټاکل شوي پلاوي له لوري مخصوصو بټیو ته انتقال او وسوځول شول.











# د افغانستان د ډیجیټلي مالي خدمتونو د پراختیا فرصتونه او د کارونې ټاکونکي عوامل

په نړۍ کې د ټکنالوژۍ چټک پرمختګ د خلکو د ورځني ژوند تر څنګ د مالي خدمتونو بڼه هم بدله کړې ده. بانکي حسابونه، پیسې لېږدول، ادایني، د حسابونو مدیریت او ګڼ نور مالي خدمات اوس د موبایل او انټرنټ له لارې په لنډ وخت او له فزیکي حضور پرته ترسره کېدای شي. دې بدلون د ډیجیټلي مالي خدمتونو اهمیت زیات کړی او د مالي شمولیت، اقتصادي فعالیتونو او د مالي خدمتونو د لاسرسي لپاره یې نوي لارې رامنځته کړې دي.

افغانستان هم د دې نړیوال تحول له بهیر څخه بېل نه دی. په هېواد کې د برېښنایي تادیاتو د زیربناوو پراختیا، د بانکي او غیر بانکي مالي بنسټونو نښلول، د اف پي کارت، ای ټي ایم، پاس، موبایل بانکوالۍ، او نورو ډیجیټلي خدمتونو پراختیا د دې لامل شوې چې خلکو ته د مالي خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره نوي انتخابونه برابر شي. د افغانستان د ادایني سیستم د هېواد د ملي برېښنایي تادیاتو د سویچ په توګه د بانکونو، برېښنایي پیسو بنسټونو او نورو مالي خدمتونو د نښلولو او د برېښنایي راکړې ورکړې د آسانتیا په برخه کې مهم رول لري.

خو د ډیجیټلي مالي خدمتونو د پراختیا په بحث کې یوازې دا پوښتنه کافي نه ده چې خلک دې خدمتونو ته لاسرسی لري که نه؟ اساسي پوښتنه دا ده چې خلک له دغو خدمتونو څخه ولې، څنګه او تر کومې کچې استفاده کوي؟

همدا توپیر له لاسرسي تر استفادې بحث رامنځته کوي.

له لاسرسي تر استفادې؛ مهم توپیر څه دی؟

د ډیجیټلي مالي خدمتونو د پراختیا لومړی پړاو د زیربناوو او لاسرسي رامنځته کول دي. یعني خلکو ته بانکي حساب، کارت، موبایل بانکوالي، ای ټي ایم، پاس، برېښنایي بټوې او د پیسو د لېږد زمینه برابرول. خو یوازې د دې خدمتونو شتون

په خپله د دې معنا نه لري چې خلک به ترې په دوامداره توګه استفاده وکړي.

ممکن یو کس بانکي کارت ولري، خو له هغه څخه یوازې د پیسو د ایستلو لپاره استفاده وکړي. یا یو شخص موبایل او انټرنټ ولري، خو د موبایل بانکوالۍ یا ډیجیټلي ادواینو له خدمتونو استفاده ونکړي. له همدې امله د ډیجیټلي مالي خدمتونو د بریالیتوب لپاره باید د لاسرسي تر څنګ کارونې ته هم پاملرنه وشي.

د نړیوال بانک د ګلوبل فاینډکس ۲۰۲۵ راپور هم د مالي خدمتونو د لاسرسي تر څنګ د هغو د واقعي کارونې، ډیجیټلي اتصال او مالي خوندیتوب اهمیت څرګندوي.

په همدې اساس، د افغانستان لپاره راتلونکی مهم ګام یوازې د ډیجیټلي مالي خدمتونو د شمېر زیاتول نه دي؛ بلکې دا دي چې خلک وهڅول شي له موجودو خدمتونو څخه په باوري، خوندي، آسانه او دوامداره توګه استفاده وکړي.

## د افغانستان ډیجیټلي مالي چاپېریال

په افغانستان کې د ډیجیټلي مالي خدمتونو ایکوسیستم په تدریجي ډول پراخ شوی دی د افغانستان د ادواینو سیستم د عمومي برېښنایي ادواینو د سویچ په توګه د مالي بنسټونو ترمنځ د برېښنایي راکړې ورکړې د نښلولو او همغږۍ اساسي رول ترسره کوي.

اف‌پې د هېواد ملي ادواینز کارت دی چې د افغانستان بانک تر څارنې لاندې د بانکونو او برېښنایي پیسو بنسټونو له لارې وړاندې کېږي. د دې کارت له لارې د نغدو پیسو ایستل، د حساب بیلانس معلومول، په پاس ماشینونو کې ادواینې د بلونو ورکړه او د پیسو لېږد په څېر خدمتونه ترسره کېدای شي. سربېره پر دې، د موبایل بانکوالۍ او یو ایس ایس ډي له لارې هم ځینې مالي خدمتونه د انټرنټ له اړتیا پرته وړاندې کېدای شي.

د دې زیربناوو پراختیا د دې زمینه برابروي چې مالي خدمتونه یوازې د بانکونو تر څانګو محدود پاتې نه شي، بلکې د کارتونو، موبایلونو، ای ټي ام، پاس او نورو ډیجیټلي کانالونه له لارې خلکو ته نږدې شي.

دا مهال په هېواد کې شاوخوا ۲.۵ میلیونه کورني کارتونه، ۵۰ زره نړیوال کارتونه، ۳۷۸ ای ټي ام ماشینونه او ۱،۸۰۰ پاس ماشینونه فعال دي. همدارنګه په ۲۰۲۵ کال کې د برېښنایي راکړو ورکړو شمېر ۶،۶۳۷،۳۱۳ او ټولیز ارزښت یې شاوخوا ۵۴.۶۵ میلیارده افغانۍ ثبت شوی وو.

دلته باید ووایم چې د ډیجیټلي مالي خدمتونو کارول یوازې د ټکنالوژۍ د شتون له امله نه رامنځته کېږي. د خلکو د تصمیم، باور، مهارتونو او چاپېریال ګن عوامل د دې خدمتونو په منلو او کارولو اغېز کوي. د ټکنالوژۍ د منلو د نظریو او د ډیجیټلي مالي خدمتونو د ځانګړتیاوو پر بنسټ، لاندې عوامل ځانګړې اهمیت لري:

۱ .د ګټورتیا احساس: که خلک دا درک کړي چې ډیجیټلي مالي خدمتونه د دوی وخت سپموي، مالي معاملې آسانه کوي، د پیسو لېږد چټکوي او د بانک څانګې ته د تګ اړتیا کموي، د دې خدمتونو د کارولو احتمال یې زیاتېږي.

د ټکنالوژۍ د منلو ماډل له مخې، کله چې خلک یو ټکنالوژیک خدمت ګټور وبولي او احساس وکړي چې د دوی په ورځني ژوند کې ورسره آسانتیا رامنځته کېږي، د هغه خدمت د کارولو لېوالتیا یې زیاتېږي. له همدې امله، په افغانستان کې هم باید خلکو ته په عملي ډول وښودل شي چې ډیجیټلي ادواینې او نور ډیجیټلي مالي خدمات څنګه کولی شي د دوی ورځني کارونه آسانه، چټک او خوندي کړي.

۲ .د آسانتیا احساس: یوازې ګټورتیا کافي نه ده؛ که یو ډیجیټلي خدمت پېچلی وي، کاروونکی به له هغه څخه په دوامداره توګه استفاده ونکړي. د حساب پرانیستل، د اپلیکیشن کارول، د پیسو لېږد، د بیلانس معلومول او تادیات باید تر ممکنه حده ساده او واضح وي. هر څومره چې یو خدمت د کاروونکي لپاره آسانه وي، هماغومره یې د منلو او دوامدارۍ کارونې احتمال یې لوړېږي.

۳ . باور د مالي خدمتونو په برخه کې

ځانګړی اهمیت لري؛ ځکه خلک خپل شخصي معلومات او پیسې له یوه مالي سیستم سره شریکوي. که کاروونکي د بانک، مالي ادارې، اپلیکیشن، تادیاتي سیستم یا د پیسو د خوندیتوب په اړه باور ونلري، ممکن له خدمت څخه استفاده ونکړي، که څه هم ورته لاسرسی ولري. له همدې امله د خلکو د باور جوړول، شفافه معلومات ورکول، د شکایتونو د حل مناسب میکانیزمونه او د مالي خدمتونو په اړه دوامداره عامه پوهاوی د ډیجیټلي مالي خدمتونو د کارونې لپاره مهم دي.

۴ .ډیجیټلي سواد: ډیجیټلي مالي خدمتونه هغه وخت مؤثر تمامېږي چې کاروونکی د موبایل، اپلیکیشن، پن کوډ، یو ایس ایس ډي او نورو ډیجیټلي وسایلو د کارولو لازم مهارت ولري. که یو شخص د ډیجیټلي خدمتونو له کارولو سره بلد نه وي، ممکن د درغلۍ، تېروتنې یا د معلوماتو د له لاسه ورکولو له وېرې له خدمت څخه ډډه وکړي. له همدې امله مالي شمولیت باید یوازې د زیربناوو د جوړولو پروژه ونه ګڼل شي؛ بلکې د ډیجیټلي او مالي سواد د لوړولو پروګرامونه هم باید ورسره یو ځای پرمخ ولاړ شي.

۵ .ټولنیز اغېز: خلک ډېری وخت د نورو خلکو د تجربو پر بنسټ له نوو ټکنالوژیو سره آشنا کېږي. که یو شخص ووینې چې کورنۍ، ملګري، همکاران یا د هغه په ټولنه کې نور خلک له ډیجیټلي مالي خدمتونو څخه استفاده کوي او مثبته تجربه لري، د هغه د کارولو احتمال هم زیاتېږي. له همدې امله د بریالیو کاروونکو تجربې، عامه پوهاوی، رسنیز کمپاینونه او د ډیجیټلي تادیاتو د ګټو په اړه عملي مثالونه کولای شي د خلکو د چلند په بدلون کې مهم رول ولري.

۶ .د انټرنټ او ډیجیټلي اتصال لاسرسی: د ډېرو ډیجیټلي مالي خدمتونو لپاره باثباته انټرنټ مهم دی. که انټرنټ کمزوری، ګران یا په ځینو سیمو کې محدود وي، د ډیجیټلي مالي خدمتونو دوامداره کارول له ستونزو سره مخ کېږي. البته یو ایس ایس ډي په څېر خدمتونه کولی شي د انټرنټ د محدودیتونو یوه برخه راکمه کړي، ځکه ځینې مالي خدمتونه د ساده موبایل له لارې هم ترسره کېدای شي. نو د ډیجیټلي مالي خدمتونو پراختیا باید د مخابراتي او انټرنټي زیربناوو له پراختیا سره همغږې وي.

۷ .د امنیت احساس: مالي خدمتونه د پیسو او شخصي معلوماتو له امله د امنیت له موضوع سره مستقیم تړاو لري. کاروونکی باید ډاډ ولري چې د هغه حساب، کارت، پن کوډ، پاسورډ او نور معلومات خوندي دي.

د ډیجیټلي اداینو د خوندي کولو لپاره د کاروونکي هویت معلومول، او ټي پي او پن کوډ، د درغلۍ د پېژندلو سیستمونه او نور امنیتي تدابیر ډېر مهم دي. د افغانستان د اداینو سیستم هم د خپلو اداینیزو خدمتونو د امنیت لپاره د هویت د خوندي تصدیق او د یو ځل کارولو لپاره پاسورډ په څېر امنیتي میکانیزمونه کاروي، څو د خلکو مالي معاملې خوندي او باوري ترسره شي.

په دې برخه کې یوازې تخنیکي امنیت کافي نه دی؛ خلکو ته باید دا هم ور زده شي چې خپل پن کوډ او پاسورډ له نورو سره شریک نه کړي، مشکوکو لینکونو ته لاړ نه شي او د درغلۍ په صورت کې له اړوندې ادارې سره اړیکه ونیسي.

**افغانستان؛ له نغدو پیسو څخه تر ډیجیټلي اداینو**

افغانستان لا هم د نغدو پیسو د پراخ استعمال له چاپېریال څخه د ډیجیټلي اداینو پر لور د بدلون په مرحله کې دی. دا بدلون یوازې تخنیکي موضوع نه ده، بلکې د خلکو د عادتونو، باورونو او مالي چلندونو بدلون هم غواړي.

په دې بهیر کې بانکونه د برېښنایي پیسو بنسټونه، مخابراتي شرکتونه، دولتي ادارې، سوداګر، رسنۍ او د عامه پوهاوي برابروونکي ټول ګډ رول لري.

د ډیجیټلي مالي خدمتونو د پراختیا لپاره باید درې موضوعات په ګډه تعقیب شي:

لومړی، خلکو ته باید د ډیجیټلي مالي خدمتونو د کارولو مناسب او باوري سیستمونه برابر شي.

دویم، خلک باید پوه شي چې دغه خدمتونه څنګه او ولې وکاروي.

دریم، کاروونکی باید د خپلو پیسو او معلوماتو د خوندیتوب په اړه ډاډ ولري.

که له دې دریو څخه یوه برخه کمزورې وي، د لاسرسي زیاتوالی ممکن د کارونې د زیاتوالي لامل نه شي.

**راتلونکي فرصتونه**

افغانستان د ډیجیټلي مالي خدمتونو په برخه کې د پام وړ فرصتونه لري. د ګرځنده ټلیفونونو د کارونې پراختیا، د مخابراتي شبکو پراخېدل، د بانکونو او برېښنایي پیسو بنسټونو نښلول، د ملي ادایني زیربناوو پراختیا او د خلکو د ډیجیټلي خدمتونو له لارې د تعامل زیاتوالی کولی شي د دې سکتور د پراختیا لپاره زمینه برابره کړي.

په ځانګړې توګه، د کوچنیو سوداګرو لپاره ډیجیټلي ادایني، د دولتي خدمتونو برېښنايي ادایني، د کورنیو او بهرنیو پیسو لېږد، موبایل بانکوالي او د ډیجیټلي بټوو پراختیا کولای شي د مالي خدمتونو د کارونې ساحه پراخه کړي.

خو د راتلونکي اصلي موخه باید یوازې دا نه وي چې څو کارتونه صادر شوي؟ یا دا چې د ای ټي ایم او پاس څو ماشینونه فعال دي؟ بلکې دا هم باید وکتل شي چې څو کسان دغه خدمتونه په منظم ډول کاروي، د کارونې کچه څومره ده، خلک له کومو ستونزو سره مخ دي او ولې ځینې کاروونکي له موجودو خدمتونو سره سره ترې استفاده نه کوي؟

**پایله**

د افغانستان د ډیجیټلي مالي خدمتونو راتلونکی یوازې د ټکنالوژۍ او زیربناوو په پراختیا پورې تړلی نه دی. د اې ټي ایم، پاس کارتونو، موبایل بانکوالۍ، یو ایس ایس ډي او نورو ډیجیټلي خدمتونو پراختیا د مالي شمولیت لپاره مهم بنسټونه دي؛ خو اصلي بریا هغه وخت ترلاسه کېږي چې خلک له دغو خدمتونو څخه په عملي، دوامداره او باوري توګه استفاده وکړي.

له همدې امله افغانستان باید له لاسرسي تر استفادې پر لور حرکت وکړي؛ یعنې د خدمتونو د برابرولو تر څنګ د خلکو د ګټورتیا او آسانتیا احساس، باور، ډیجیټلي سواد، ټولنیز مؤثریت، انټرنټي لاسرسي او امنیت ته هم جدي پاملرنه وشي.

په پای کې، ډیجیټلي مالي خدمتونه هغه وخت خپل بشپړ اقتصادي او ټولنیز ارزښت ترلاسه کولی شي چې له یوې خوا زیربناوې موجودې وي او له بلې خوا خلک پرې باور ولري، د کارولو مهارت یې ولري او په ورځني ژوند کې یې په رښتیني توګه وکاروي.

نو د افغانستان د ډیجیټلي مالي تحول راتلونکی یوازې په دې کې نه دی چې خدمت ته لاسرسی شته بلکې په دې کې دی چې خدمت په رښتیا کارول کېږي.

**لیکنه:** حسیب الله نوري د افغانستان بانک ویاند


سرچینې:

1. Afghanistan Payment System (APS). (2026). Afghanistan Payment System: National electronic payments switch of Afghanistan.
2. Afghanistan Payment System (APS). (2026). AfPay Card.
3. Davis, F. D. (1989). Perceived usefulness, perceived ease of use, and user acceptance of information technology. MIS Quarterly, 13(3), 319–340. https://doi.org/10.2307/249008
4. Gefen, D., Karahanna, E., & Straub, D. W. (2003). Trust and TAM in online shopping: An integrated model. MIS Quarterly, 27(1), 51–90. https://doi.org/10.2307/30036519
5. Venkatesh, V., & Davis, F. D. (2000). A theoretical extension of the technology acceptance model: Four longitudinal field studies. Management Science, 46(2), 186–204. https://doi.org/10.1287/mnsc.46.2.186.11926
6. Venkatesh, V., Morris, M. G., Davis, G. B., & Davis, F. D. (2003). User acceptance of information technology: Toward a unified view. MIS Quarterly, 27(3), 425–478. https://doi.org/10.2307/30036540
7. Venkatesh, V., Thong, J. Y. L., & Xu, X. (2012). Consumer acceptance and use of information technology: Extending the unified theory of acceptance and use of technology. MIS Quarterly, 36(1), 157–178. https://doi.org/10.2307/41410412
8. World Bank. (2025). The Global Findex Database 2025: Connectivity and financial inclusion in the digital economy.



# مواد خام؛ آنچه سرنوشت اقتصاد جهان را رقم می‌زند

تسلط بر کالاهای اساسی، در گذشته اقتصاد جهان را شکل داده و می‌تواند آینده آن را نیز تعیین کند.

(این مقاله از ویبلاک صندوق بین المللی پول ترجمه شده است)

کالاهای اساسی، مواد خام تمدن و شریان حیاتی اقتصاد جهان‌اند. اما خودِ این نام باعث می‌شود این کالاهای اساسی بسیار معمولی‌تر از آنچه واقعاً هستند، به نظر برسند. یک کالا، بنا بر تعریف، چیزی است که هویت یا ویژگی متمایزکننده‌ای ندارد. هنگامی که چیزی به یک «کالای قابل‌معامله» تبدیل می‌شود، دیگر از جذابیت و جلوه کالاهای اساسی مصرفی دارای برند برخوردار نیست. روی یک بشکه نفت یا یک تُن مس، نشان لوکس یک برند دیده نمی‌شود و پشت یک محموله گندم نیز کمپاین بازاریابی خاصی وجود ندارد.

با این حال، دقیقاً همین ماهیت یکسان و قابل‌جایگزینِ کالاهای اساسی است که امکان می‌دهد آن‌ها به‌صورت روان و بدون مانع در بازارهای جهانی معامله شوند و تضمین کنند که مردم در سراسر جهان، صرف‌نظر از محل زندگی‌شان، به مواد خام مورد نیاز خود دسترسی داشته باشند.

از آنجا که کالاهای اساسی برای اقتصاد و زندگی بشر ضروری‌اند، اما منابع آن‌ها به‌صورت نابرابر در میان کشورها توزیع شده است، این کالاهای اساسی همواره هم فرصت اقتصادی ایجاد کرده‌اند و هم آسیب‌پذیری ژئوپولیتیکی به وجود آورده‌اند.

نخستین مسیرهای طولانی تجاری نیز با هدف انتقال مواد خام ارزشمند در میان قاره‌ها شکل گرفتند. برای مثال، کاروان‌های تجاری ترانس‌صحرا، مناطق دارای معادن طلا و نمک در غرب افریقا را به شمال این قاره و اروپا وصل می‌کردند. همچنین، شبکه‌های ابتدایی تجارت دریایی در اقیانوس هند، ادویه‌جات گیاهی، عاج فیل، سنگ‌های قیمتی و فلزات گران‌بها را میان شرق افریقا، شبه‌جزیره عربستان، هند و آسیای جنوب‌شرقی مبادله می‌کردند. اما همین منابع ارزشمند، در کنار ایجاد ثروت و رونق تجارت، زمینه‌ساز منازعات و درگیری‌ها نیز می‌شدند.

امروزه نیز کالاهای اساسی تقریباً همان نقش گذشته را ایفا می‌کنند؛ یعنی از یک‌سو چرخ زندگی روزمره را به حرکت درمی‌آورند و از سوی دیگر، در تعیین مسیر آینده اقتصاد جهان نقش دارند. اهمیت این کالاهای اساسی بار دیگر در حال افزایش است؛ زیرا جهان به‌سوی انرژی پاک‌تر حرکت می‌کند، زیرساخت‌های دیجیتل را گسترش می‌دهد و ظرفیت‌های دفاعی خود را بازسازی و تقویت می‌کند. این تحولات نیز به نوبه خود، تنش‌های ژئوپولیتیکی جدیدی ایجاد کرده‌اند.

درک کالاهای اساسی فقط به معنای شناخت گذشته نیست؛ بلکه به ما کمک می‌کند تا مهم‌ترین چالش‌های اقتصادی و سیاسی عصرِ حاضر را بهتر درک کنیم. اما این کالاهای اساسی دقیقاً چه هستند؟ در بازارهای

مدرن چگونه خریدوفروش می‌شوند؟ چه عواملی باعث نوسانات شدید قیمت آن‌ها می‌شود؟ و چرا این کالاهای اساسی در مرکز بازارهای مالی مدرن و تحولات ژئوپولیتیکی قرار دارند؟

**کالاهای اساسی سخت و نرم**

در ساده‌ترین تعریف، کالاهای اساسی به دو دسته عمده تقسیم می‌شوند: کالاهای اساسی که از زیر زمین استخراج می‌شوند، مانند نفت، مس، آهن و طلا که به آن‌ها کالاهای اساسی سخت گفته می‌شود؛ و کالاهای اساسی که از زمین و کشت‌وزرع به دست می‌آیند، مانند گندم، قهوه، پنبه و کاکائو که کالاهای اساسی نرم نامیده می‌شوند. در واقع، تقریباً هر چیزی که لمس می‌کنیم، می‌خوریم، می‌پوشیم یا با آن می‌سازیم، از همین مواد اولیه ساده و به ظاهر معمولی آغاز می‌شود.

برای مثال، مبایلی که در دست دارید، حدود ۴۲ نوع ماده معدنی مختلف در خود دارد؛ از جمله کبالت از جمهوری دموکراتیک کنگو، مس از پرو، سنگ‌آهن از آسترالیا و شمار زیادی از عناصر کمیاب خاکی که عمدتاً از چین تأمین می‌شوند. حتی برقی که مبایل شما را چارج می‌کند نیز به کالاهای اساسی وابسته است؛ از جمله نفت، گاز، زغال‌سنگ و یورانیم، یا مواد معدنی حیاتی که در ساخت تخته‌های سولر و توربین‌های بادی به کار می‌روند.

چه در معاملات کالاهای اساسی سخت و چه در معاملات کالاهای اساسی نرم، تولیدکنندگان و خریداران همواره با یک چالش مشترک روبه‌رو بوده‌اند: چگونه با نوسانات شدید و غیرقابل‌پیش‌بینی قیمت‌ها مقابله کنند؟ برای مثال، یک سال برداشت بسیار خوب و سال بعد خشکسالی می‌تواند سرنوشت یک دهقان را کاملاً تغییر دهد و حتی باعث ورشکستگی یا رونق کار او شود. همین نوسانات قیمت، آسیابانان، تاجران و بانک‌هایی را که منابع مالی فعالیت آنان را تأمین می‌کردند نیز با خطرهای جدی مواجه می‌ساخت.

برای ایجاد نظم در این وضعیت آشفته، بازارسهام تجارت شیکاگو در سال ۱۸۴۸ تأسیس شد. این نهاد نخستین بازار معیاری را ایجاد کرد که در آن دهاقین و خریداران می‌توانستند ماه‌ها پیش از تحویل کالا، قیمت آن را مشخص و تثبیت کنند.

در این بازار، دهقان می‌توانست با فروش یک قرارداد آتی به یک خریدار، قیمت فروش محصول خود را از قبل تعیین کند. قرارداد آتی در واقع یک توافق رسمی است که بر اساس آن، مقدار مشخصی از یک کالای مشخص با قیمت معین، در تاریخ مشخصی در آینده تحویل داده می‌شود. به این ترتیب، دهقان می‌توانست ماه‌ها پیش از برداشت یا تحویل محصول، از قیمت فروش آن اطمینان حاصل کند.

بازارهای قرارداد آتی تنها به تضمین درآمد ثابت برای دهاقین کمک نمی‌کردند؛ بلکه زمینه را فراهم می‌نمودند آنان آسان‌تر از بانک‌ها قرضه دریافت کنند و مصارف مربوط به آبیاری، خرید تخم‌های بذری، کود و آفت‌کش‌ها را تأمین نمایند. در نتیجه، می‌توانستند میزان تولید خود را افزایش داده و از محصولات‌شان در برابر خطرات مختلف محافظت کنند.

مؤسسات مشابهی به‌زودی در دیگر مراکز عمدهٔ تجاری نیز ایجاد شدند؛ برای مثال، بازار سهام تجاری نیویارک برای معاملات محصولات انرژی و فلزات، و بازار سهام فلزات لندن برای فلزات اساسی. این بازارهای سهام تجارت کالا را از محدودیت‌های بازارهای فیزیکی و اغلب محلی رها کردند. انعطاف‌پذیری قراردادهای مالی در سطح جهانی به تولیدکنندگان امکان داد تا خطرات خود را پوشش دهند و خریداران بتوانند قیمت‌های باثبات‌تری را تضمین کنند.

مهم‌تر از همه، این قراردادها به تاجران اجازه داد تا دامنه فعالیت‌های خود را گسترش دهند. با پوشش خطرات مالی‌ای که پیش از آن دامنه فعالیت‌شان را محدود می‌کرد، تاجران می‌توانستند حجم‌های هرچه بزرگ‌تری از کالاهای اساسی را در سراسر قاره‌ها جابه‌جا کنند و در نتیجه، روند جهانی‌شدن بسیاری از بازارهای کالا را سرعت بخشند.

**قرارداد های آتی و اختیار معامله**

اما با توسعه و پخته‌تر شدن این بازارها، تحول قابل‌توجهی به وجود آمد. معاملات به‌تدریج از دادوستد مستقیم بشکه‌های نفت، محموله‌های غله یا شمش‌های فلزی فاصله گرفت و بیشتر بر قراردادهایی متمرکز شد که به این کالاهای اساسی مرتبط بودند. قراردادهای آتی، اختیار معامله و سایر ابزارهای مشتقه که در ابتدا برای بیمه‌کردن معاملات و پوشش خطرات طراحی شده بودند، خودشان به ابزارهای قابل معامله و در واقع به دارایی‌های مالی مستقل تبدیل شدند.

این ابزارها توجه معامله‌گرانِ فعال برای کسب فایده از نوسانات قیمت، صندوق‌های پوشش خطر و سرانجام معامله‌گرانِ با معاملات پرتعداد و سریع را به خود جلب کردند. از آنجا که برای معامله این ابزارها معمولاً لازم نیست تمام ارزش دارایی اساسی پرداخت شود و تنها بخشی از ارزش آن به‌عنوان تضمین یا وثیقه گذاشته می‌شود، معامله‌گران می‌توانند با استفاده از اهرم

مالی موقعیت‌هایی بسیار بزرگ‌تر از سرمایه واقعی خود ایجاد کنند. این امر هم امکان کسب سودهای بزرگ‌تر و هم احتمال ضررهای سنگین‌تر را افزایش داده و باعث شده است که بازار کالاهای اساسی بیش از پیش با نظام مالی جهانی درهم‌تنیده شود.

قیمت کالاهای اساسی گاهی ممکن است بیش از آن‌که بازتاب‌دهنده تقاضای فیزیکی برای خود کالاهای اساسی باشد، تحت تأثیر معامله‌گری مالی قرار گیرد. افزایش شدید و سپس اصلاح تند قیمت طلا در ماه‌های اکتوبر و نوامبر ۲۰۲۵ نمونه‌ای روشن از این پویایی است.

**معامله به هدف کسب فایده از نوسانات قیمت**

تاریخ معاصر نمونه‌های بی‌شماری از این پدیده ارائه می‌کند. هنگامی که چین در اوایل دهه ۲۰۰۰ وارد نظام تجارت جهانی شد و رونق گسترده زیرساختی خود را آغاز کرد، تقاضا در سکتورهای مختلف چنان به‌سرعت افزایش یافت که قیمت نفت، فلزات و کالاهای اساسی زراعتی همگی به‌طور هم‌زمان جهش کردند؛ پدیده‌ای که به ابرچرخه کالاهای اساسی معروف شد. اما زمانی که شوک‌ها تنها به یک منبع یا ماده اولیه مشخص محدود شوند، قیمت‌ها ممکن است حتی در داخل یک سکتور واحد نیز در جهت‌های مخالف حرکت کنند.

برای مثال، در جریان شیوع ویروس کرونا، قرنطین‌های چین باعث شد تقاضا برای فولاد به‌شدت کاهش یابد. با این حال، قیمت سنگ‌آهن که فولاد از آن تولید می‌شود، همچنان افزایش یافت. دلیل آن این بود که معادن بزرگ در افریقا و برازیل هم‌زمان تعطیل شدند یا میزان تولید خود را کاهش دادند و در نتیجه، عرضه محدودتر شد؛ درست در زمانی که تقاضا در حال کاهش بود. به همین دلیل، پیش‌بینی قیمت کالاهای اساسی بسیار دشوار است. صرفاً دنبال‌کردن وضعیت اقتصاد جهانی کافی نیست. پیش‌بینی قیمت‌ها مستلزم درک دقیق پویایی‌های خاص هر بازار، با تمام ویژگی‌ها و پیچیدگی‌های منحصربه‌فرد آن است.

**شکاف‌های ژئوپولیتیکی**

بازارهای کالا ارتباطی عمیق و ناگسستنی با ژئوپولیتیک دارند. البته این رابطه موضوع تازه‌ای نیست: امپراتوری‌ها برای دستیابی به طلا، نقره، شکر و ادویه‌جات گیاهی با یکدیگر جنگیده‌اند و ناوگان‌های دریایی نیز دسترسی به رابر، نفت و سایر مواد اولیه ستراتیژیک را تضمین می‌کردند.

در دوران استعمار، رقابت بر سر کالاهای اساسی حتی در شکل‌گیری نقشه جهان نیز نقش داشت؛ به‌گونه‌ای که مرزها اغلب بر اساس حوزه‌های غنی از منابع طبیعی ترسیم می‌شدند. بسیاری از مرزهای ملی و ساختارهای اقتصادی امروزی هنوز بازتاب‌دهنده همین میراث ناشی از نقش کالاهای اساسی در شکل‌گیری مناسبات سیاسی و اقتصادی هستند.

امروزه، وابستگی روزافزون جهان به کالاهای اساسی و حیاتی موادی که برای صنایع دفاعی، گذار انرژی و تکنالوژی‌های دیجیتلی مورد نیاز برای توسعه هوش مصنوعی ضروری‌اند موج تازه‌ای از رقابت‌ها و تنش‌های ژئوپولیتیکی را ایجاد کرده است. لیتیم، کبالت و عناصر نادر خاکی امروزه همان اهمیت ستراتیژیک را پیدا کرده‌اند که زمانی نفت و فولاد داشتند. کشورهایی که از ذخایر غنی این مواد برخوردارند، در حال کسب نفوذ بیشتری هستند؛ در حالی که کشورهایی که فاقد این منابع‌اند، می‌کوشند از طریق ائتلاف‌ها، توافق‌های سرمایه‌گذاری و طرح مجدد زنجیره‌های عرضه، دسترسی بلندمدت خود به این مواد را تضمین کنند.

کنترول‌های صادراتی، تحریم‌ها و بازگردانی تولید به داخل کشور نیز به‌طور فزاینده مواد معدنی‌ای را هدف قرار می‌دهند که قدرت نظامی، صنعتی و تکنالوژی آینده را شکل خواهند داد.

**اهمیت پایدار و محوری کالاهای اساسی**

از کاروان‌های باستانی گرفته تا بازارهای سهام مدرن مشتقات مالی، و از گسترش سلطه استعماری گرفته تا رقابت امروز بر سر مواد معدنی حیاتی، کالاهای اساسی همواره در نقطه تلاقی اقتصاد، سیاست و تکنالوژی قرار داشته‌اند. آن‌ها قدیمی‌ترین عناصر سازنده فعالیت‌های بشری‌اند، اما همچنان برای پیشرفته‌ترین بخش‌های اقتصاد جهانی نیز ضروری و حیاتی باقی مانده‌اند.

با شتاب‌گرفتن گذار انرژی، گسترش دیجیتلی‌شدن و تشدید رقابت‌های ژئوپولیتیکی، نقش کالاهای اساسی بیش از پیش محوری و تعیین‌کننده خواهد شد. کنترول بر این کالاهای اساسی اقتصاد جهانی گذشته را شکل داده است و ممکن است نظم جهانی آینده را نیز شکل دهد.

نویسنده: ژان مارک ناتال

مترجم: سید آصف فکرت عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

---

لینک مقاله:

https://www.elibrary.imf.org/view/journals/022/0063/002/article-A003-en.xml





# مالي سواد، سپما او پانګونه:

## د فرد او ټولنې د اقتصادي پیاوړتیا بنسټونه

په اوسني عصر کې اقتصادي رفاه د انسان د ورځني ژوند له ټولو مهمو برخو څخه ده، د فردي او کورني ژوند له اړتیاوو نیولې تر عمومي پرمختګ پورې، هر څه له مالي تصمیمونو سره تړاو لري. په همدې اساس، مالي سواد، سپما او سرمایه‌ګذاري د هر انسان د اقتصادي ثبات او پرمختګ لپاره اساسي عناصر ګڼل کېږي. هغه کسان چې د پیسو د سم مدیریت، د لګښتونو د کنټرول، د سپما د فرهنګ، او د پانګونې د اصولو په اړه پوهه لري، نه یوازې خپل ژوند خوندي کوي، بلکې د ټولنې د اقتصادي ودې لپاره هم مثبت رول لوبوي.

مالي سواد انسان ته دا وړتیا ورکوي چې خپل مالي منابع په شعوري او منظم ډول وکاروي. سپما د راتلونکي لپاره د اطمینان او امنیت زمینه برابروي، او پانګونه د سپما د ودې او زیاتېدو وسیله ګرځي. نو ځکه، دا درې واړه مفاهیم یوازې د شخصي اقتصاد موضوع نه ده، بلکې د ټولنیزې رفاه، د فقر د کمولو، او د اقتصادي ثبات بنسټ هم بلل کېږي.

**مالي سواد**

مالي سواد هغه پوهه، مهارت او درک ته ویل کېږي چې انسان ته د غوره مالي پرېکړو کولو توان ورکوي. پدې کې د عاید او لګښت توازن، بودجه جوړول، د پورونو سم مدیریت، د سپما کولو عادت، د پانګونې پېژندنه، او د مالي خطرونو ارزونه شامله ده. یو مالي سواد لرونکی انسان یوازې د پیسو مصرف نه کوي، بلکې د خپلو مالي منابعو لپاره هدف، ترتیب او پلان لري.

په عملي ډول، مالي سواد انسان سره مرسته کوي چې د اړتیا او غوښتنې ترمنځ توپیر وکړي. ډېر خلک داسې مالي ستونزې لري

چې د کم عاید له امله نه، بلکې د ناسمو مالي عادتونو له امله رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه، يو څوک ممکن ښه عايد ولري، خو د بې ځایه لګښتونو، غير ضروري پور اخيستلو، او د بودجې د نه درلودو له امله له اقتصادي فشار سره مخ شي. له همدې امله، مالي سواد د هر شخص لپاره د ژوند يو مهم مهارت دی.

**د سپما اهمیت**

سپما د مالي نظم او ثبات له مهمو عناصرو څخه ده. کله چې يو فرد يا کورنۍ د عايد يوه برخه په منظم ډول سپموي، نو د ناڅاپي ستونزو پر مهال د اضطراري لګښتونو د پوره کولو وړتيا پيدا کوي. ناروغي، بېکاري، د کور ترميم، د ماشومانو زده کړه، او نور غير متوقع مصارف هغه حالتونه دي چې د سپما ارزښت پکې څرګندېږي. که سپما موجوده وي، نو کورنۍ د پور اخيستلو ته لږه اړتيا پيدا کوي او له مالي فشار څخه ژغورل کېږي.

سپما يوازې د پيسو ذخيره کول يا شمېرل نه دي، بلکې د مالي انضباط يوه بڼه ده. هغه څوک چې سپما کوي، په حقيقت کې خپل مصرف کنټرولوي او د راتلونکي د اړتياوو لپاره پلان جوړوي. د سپما کلتور د فرد په شخصيت کې حوصله، زغم، او مسئوليت پياوړی کوي. له همدې امله، د اقتصادي ثبات لپاره سپما يو اساسي عادت ګڼل کېږي.

د سپما لپاره تر ټولو ښه لاره دا ده چې انسان خپل عايد په پلان سره وويشي. لومړی بايد اړين لګښتونه لکه خوراک، کور کرايه، د برېښنا او سون توکو بلونه، تعليم، او درملنه وټاکل شي. وروسته بايد د غير ضروري مصرفونو مخه ونيول شي. ډېری وخت خلک د عادت له مخې پيسې په داسې کارونو لګوي چې اړتيا ورته نه وي. که دا مصرفونه راکم شي، نو سپما کول آسانېږي کېږي. همدارنګه، د هرې مياشتې له عايد څخه د يوې ټاکلې سلنې جلا کول هم يو ښه عادت دی.

په ټولنيزه کچه، هغه ټولنې چې خلک يې د سپما فرهنګ لري، د اقتصادي فشارونو پر وړاندې ډېرې مقاومې وي. د سپما پراخوالی د بانکوالۍ نظام ته هم وده ورکوي، ځکه خلک خپلې زېرمې مالي بنسټونو ته سپاري او دا زېرمې د پانګونې لپاره کارول کېږي. په دې توګه، سپما نه يوازې فردي، بلکې ټولنيز او عمومي ارزښت هم لري.

**د پانګونې مفهوم او ارزښت**

پانګونه هغه بهير دی چې پکې موجوده شتمني يا پيسې د داسې فعاليت لپاره کارول کېږي چې په راتلونکي کې ګټه، عايد، يا اقتصادي ارزښت توليد کړي. پانګونه ممکن په سوداګرۍ، توليد، کرنې، ملکيت، يا نورو اقتصادي برخو کې وشي. د پانګونې اصلي موخه دا وي چې اوسني مالي امکانات د راتلونکي د لاسته راوړنو لپاره فعاله شي.

پانګونه د شتمنۍ د زياتېدو مهمه وسيله ده، که څوک خپلې پيسې يوازې وساتي او هېڅ ګټور کار کې يې مصرف نه کړي، نو د وخت په تېرېدو سره يې د پيسو ارزښت د انفلاسيون له امله کمېدای شي. خو که هماغه پيسې په يوه ګټوره پانګونه کې وکارول شي، نو د عايد سرچينه ګرځي او د شتمنۍ کچه لوړېږي. له همدې کبله، پانګونه د شتمنۍ د ساتنې او ودې لپاره ډېر مهم رول لري.

له اقتصادي نظره، پانګونې د کارموندنې، توليد، بازار پراختيا، او اقتصادي ودې لامل ګرځي. کله چې پانګه په توليدي فعاليتونو کې ولګول شي، نو نوې دندې رامنځته کېږي، د مالونو او خدمتونو اندازه ډېروي، او د خلکو د ژوند کيفيت ښه کوي. همدارنګه، پانګونه د خصوصي سکتور د پياوړتيا او د ملي اقتصاد د تحرک لپاره مهم محرک ګڼل کېږي.

**د مالي سواد، سپما او پانګونې ترمنځ اړيکه**

دا درې واړه مفاهيم له يو بل سره ژور تړاو لري او يو د بل بشپړونکي دي، مالي سواد انسان ته د سم فکر او تحليل توان ورکوي، سپما ورته مالي بنسټ برابروي، او پانګونه د هماغې زېرمې د ودې لاره ده. که مالي سواد نه وي، سپما هم کېدای شي

بې‌نظمه او ناسمه مدیریت شي، که سپما نه وي، د پانګونې لپاره لازمه پانګه نه پیدا کېږي. او که پانګونه په سمه توګه ونه شي، نو د سپما ارزښت هم نه لوړېږي.

د سالم مالي ژوند لپاره باید دا درې مرحلې په ترتیب تعقیب شي: لومړی د عاید او لګښتونو درک، دویم منظمه سپما، او درېیم په مناسب ځای کې هوښیاره پانګونه. دغه لړۍ انسان له مالي بې‌ثباتۍ څخه وباسي او د اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ لور ته یې بیایي. په حقیقت کې، دا درې واړه د شخصي اقتصاد د یوې واحدې معادلې برخې دي.

**پر کورنۍ او ټولنیز ژوندېې اغېز**

مالي سواد، سپما او پانګونه یوازې د فرد شخصي ستونزه نه ده، بلکې د کورنۍ او ټولنې پر ژوند ژور اغېز لري. هغه کورنۍ چې مالي سواد لري، خپل عاید په سمه توګه تنظیموي، د بې‌ځایه لګښتونو مخه نیسي، او د راتلونکي لپاره پلان لري. دا ډول کورنۍ له اقتصادي بحرانونو سره ښه مقابله کولای شي او د خپلو ماشومانو لپاره هم سالم مالي راتلونکی تضمینوي.

په ټولنه کې د مالي سواد لوړېدل د اقتصادي نظم، د سپما د کچې زیاتېدو، او د تولیدي پانګونې د پراخېدو سبب کېږي. دا حالت د داخلي اقتصاد د ثبات، د فقر د کمېدو، او د خلکو د ژوند د کیفیت د ښه کېدو لامل ګرځي. برعکس، که مالي بې‌سوادي زیاته وي، خلک به ډېر پورونه واخلي، بې‌ځایه مصرف به زیات شي، او د اقتصادي ستونزو کچه به لوړه شي. له همدې امله، د مالي سواد عامول د ټولنیز پرمختګ یو مهم شرط دی.

**د مالي سواد د پیاوړتیا لارې**

د مالي سواد د ودې لپاره څو عملي لارې شته. لومړی، باید د ښوونځي او پوهنتون په نصاب کې د مالي مدیریت بنسټیز مفاهیم شامل شي. دویم، کورنۍ باید ماشومانو ته د پیسو د ارزښت، سپما، او مسئولانه مصرف په اړه روزنه ورکړي. درېیم، رسنۍ او بانکونه باید د عامه پوهاوي پروګرامونه پیاوړي کړي، څلورم، هر فرد باید د شخصي بودجې جوړولو، د عاید ثبتولو، او د لګښتونو څارلو عادت خپل کړي.

همدارنګه، د پور اخیستلو پر مهال باید احتیاط وشي، ځکه بې‌ځایه پورونه انسان د اوږدمهاله مالي فشار سره مخ کوي. د پانګونې په برخه کې هم د معلوماتو، مشورې، او خطر ارزونې پرته اقدام کول مناسب نه دي. مالي سواد په اصل کې د همدې احتیاط، تحلیل، او نظم مجموعه ده.

**پایله**

په پایله کې ویلای شو چې مالي سواد، سپما او پانګونه د هر انسان د اقتصادي پیاوړتیا او د هرې ټولنې د پرمختګ اساسي ارکان دي. مالي سواد انسان ته د سمې پرېکړې کولو وړتیا ورکوي، سپما د راتلونکي لپاره امنیت رامنځته کوي، او پانګونه د شتمنۍ د زیاتېدو او اقتصادي ودې زمینه برابروي. که دا درې واړه په متوازن ډول عملي شي، نو فرد، کورنۍ او ټولنه به له اقتصادي بې‌ثباتۍ څخه وژغورل شي او د سوکاله راتلونکي پر لور به ګام واخلي.

له همدې امله، د مالي سواد ترویج، د سپما فرهنګ دودول، او د هوښیارې پانګونې هڅول باید د کورنیو، تعلیمي ادارو، رسنیو او مالي بنسټونو په ځانګړي ډول د بانکونو ګډ مسئولیت وي. یوه داسې ټولنه چې د پیسو مدیریت پکې د علم، نظم او مسئولیت پر بنسټ ولاړ وي، خامخا به د اقتصادي ودې، ټولنیز ثبات او دوامدار پرمختګ پر لور روانه وي.

**لیکنه:** شاکرالله حیات د ختیځ سیمه ییز زون د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې ستر مدیر



# په افغانستان کې د کليوالي اقتصاد فرصتونه او ننګونې

د افغانستان کليوالي اقتصاد د عمومي اقتصاد د ملا تير دى. په افغانستان کې کرنه د ډېرو کورنيو لپاره د عايد او کار اصلي سرچينه ده. کلي د فصلي حاصلاتو لکه غنمو، مېوو او حبوباتو او همدارنګه د څارويو د پالنې له لارې د ژوندانه ژرنده پر مخ بيايي. دا عوايد د کورنۍ مصرف اړتياوې پوره کوي او همدارنګه وړو سوداګريزو شبکو ته وده هم ورکوي. کليوالي سوداګري ډېرى وختونه غير رسمي وي، له نورو هېوادونو سره د ګډو بازارونو د پولې له لارې د توکو پر انتقال وي. سره له دې، دغه سوداګري د ترانسپورتي لګښتونو، د زيربناوو نيمګړتياوو او د اسعارو د تبادلو په پايله کې د لګښتونو له خطرونو سره مخ وي. د کرنې او سوداګرۍ ترڅنګ، له بهر څخه د افغان کارګرانو لخوا را استول شوې پيسې هم د کورنيو د ژوند يوه مهمه اړتيا پوره کوي. کورنيو ته را استول شوې پيسې د کورنۍ مصرف، زدکړې او د وړو پانګونو د تمويل په برخه کې مهم رول لري، او کورنۍ د مالي ستونزو پر وړاندې خوندي ساتي. په ګډه، کرنه، سوداګري او له بهر څخه حوالې يو پېچلى خو مقاوم کليوال اقتصاد جوړوي چې د ټولنې د پرمختګ په برخه کې مرسته کوي. خو لا هم کليوال اقتصاد بهرنيو فشارونو پر وړاندې کمزورى دى او د لاسرسي وړ بانکي خدمتونو ته عاجله اړتيا لري ترڅو مالي فرصتونه باثباته او پراخ شي.

## کلیوال مالي چاپیریال

د افغانستان کلیوال مالي چاپیریال هم د مقاومت او هم د کمزورۍ د نښو څرګندويي کوي. ډېری کورنۍ د غیررسمي میکانیزمونو له لارې خپلې پیسې اداره کوي لکه د کور دننه په نغدو پیسو سپما کول، له خپلوانو پور اخیستل، یا د ټولنې پر بنسټ جوړو شویو سیستمونو لکه قسطونو او د سپما په موخه د کلو په کچه نورو پروګرامونو کې برخه اخیستل. دغه کړنې د باور او متقابلې همکارۍ ژور دودونه څرګندوي، خو کورنۍ د غلا، انفلاسیون او د ودې د محدودو فرصتونو پر وړاندې د زیانونو سره د مخ کېدو له خطر سره هم مخ دي. په کلیو کې د رسمي بانکونو نفوذ لا هم ټیټ دی، ځکه چې جغرافیایي لرېوالی، د زیربناوو نیمګړتیاوې او د سواد کموالی د مالي محصولاتو د درک مخه نیسي. سره له دې، کلیوالې ټولنې د پام وړ ظرفیت لري. د کرنې فصلي دورې د تولید په برخه کې د عوایدو زیاتوالی رامنځته کوي، له بهر څخه حوالې باثباته جریانونه برابروي، او محلي بازارونه سوداګرۍ ژوندۍ ساتي. ننګونه په دې کې ده چې دغه واقعیتونه د لاسرسي وړ او باوري بانکي خدمتونو سره ونښلول شي، ترڅو غیررسمي کړنلارې په خوندي سپما، منظمو تمویلونو او اوږدمهالې مالي پیاوړتیا بدلې شي.

## تمویلاتو ته لاسرسی

مالي تمویلاتو ته د کلیوالي ټولنو لاسرسی یوه جدي اړتیا او په ورته وخت کې یوه ننګونه هم ده. بزګران د تخمونو، سرې او اوبو لګولو لپاره مالي سرچینو ته اړتیا لري او کوچني سوداګران د فصلي بدلونونو د زغملو لپاره د کاري پانګې غوښتونکي دي. خو د تمویل ترلاسه کولو لپاره ضمانتونه لکه د ځمکې اسناد یا رسمي تضمینونه ډېری کلیوالې کورنۍ له دې بهیر څخه بې برخې کړې دي. د دې ستونزې د حل لپاره نوښتګرې بڼې لکه ډله ییز تمویلات چې د ټولنې غړي د یو بل تمویلات تضمینوي په ورته شرایطو کې مؤثر ثابت شوي دي. د وړو مالي تمویلاتو ادارې او د اسلامي بانکوالۍ محصولات هم د کلتوري ارزښتونو سره سمون لري، د شریعت له اصولو سره مطابقت لري او د شمولیت فضا پراخوي. د بانکونو، کوپراتیفونو او غیر دولتي مؤسسو ترمنځ شراکتونه کولای شي د مالي خدمتونو ترڅنګ د روزنې او ظرفیت جوړونې پروګرامونه وړاندې کړي. سیمه ییزې بېلګې یې لکه د جنوبي آسیا کلیوالي پور پروګرامونه، ښیي که چېرې تمویلات د محلي واقعیتونو پر بنسټ طرحه شي، نو تمویلاتو ته لاسرسی کولای شي د خلکو ژوند بدل کړي، زیانمنتیا کمه کړي او کلیوالي اقتصاد ته وده ورکړي.

## د سپما فرهنګ ته وده ورکول

په افغانستان کې د کلیوالي ټولنو د سپما دود زیاتره غیررسمي دی، چې کورنۍ خپلې پیسې په کور کې په نغدي بڼه ساتي یا د څارویو په اخیستلو کې پانګونه کوي ترڅو د امنیت یوه بڼه ولري. که څه هم دغه لارې د مالي مقاومت څرګندونه کوي، خو کورنۍ د غلا، انفلاسیون او د ناڅاپي مالي فشارونو لکه وچکالۍ یا د بازار د بې ثباتۍ پر وړاندې له زیان سره مخ کوي. د رسمي سپما کلتور رامنځته کول د اوږدمهاله ثبات لپاره اړین دي. خوندي سپما حسابونه، چې د کلیوالي واقعیتونو سره سم طرحه شوي وي او د ګرځنده بانکوالۍ د استازو یا د کلي کوپراتیفونو له لارې وړاندې شي، کولای شي کورنیو ته خوندي بدیلونه برابر کړي. له شریعت سره سمون لرونکي د سپما محصولات، چې د محلي ارزښتونو سره هم همغږي لري، د باور او لاسرسي کچه نوره هم لوړوي. د پوهاوي کمپاینونه د راډیو، ولسي غونډو او د کیسې ویلو د فرهنګ

له لارې، کولای شي بانکوالي روښانه کړي او د سپما ګټې د زده کړې، روغتیا او بیړنیو حالاتو لپاره څرګندې کړي. کله چې سپما د ورځني ژوند برخه شي، کلیوالې کورنۍ د بحرانونو پر وړاندې زغم ترلاسه کوي، او بانکونه د سپما زیرمو بنسټ پراخوي، چې د امنیت او ودې یو دوامداره پروسه منځ ته راځي.

## د ټکنالوژۍ رول

ټکنالوژي د افغانستان د کلیوالي اقتصاد او رسمي بانکي خدمتونو تر منځ تر ټولو مهم رول لوبولای شي. د ګرځنده بانکوالۍ پلاټفورمونه، د استازو شبکې او د بایومټریک پېژندنې سیستمونه کولای شي د واټن او اسنادو خنډونه له منځه یوسي، او کلیوالو ته دا زمینه برابره کړي چې پرته له اوږده سفره حسابونه پرانیزي او راکړه ورکړه ترسره کړي. له موبایل سره وصل شوې ډیجیټلي بټوې د حوالو د لیږد اجازه ورکوي چې مستقیم د کلیوالو حسابونو ته رسېږي، او د نغدو پیسو او غیررسمي منځګړو اړتیا کموي. د پیرودونکي پېژندنې ساده شوې کړنلارې چې د کلیوالي واقعیتونو سره سمون لري، بزګرانو او سوداګرو ته دا آسانتیا برابروي چې پرته له پېچلو او اوږدو کاغذي پروسو ثبت شي. د مالي ټکنالوژۍ نوي شرکتونه، د بانکونو په ملګرتیا، کولای شي دوستانه اپلیکیشنونه طرحه کړي، ترڅو د سواد په بېلابېلو کچو کې لاسرسی یقیني کړي. په ورته وخت کې، د زیربناوو پانګونه لکه د ګرځنده ټلیفون پوښښ پراخول، د برېښنا لاسرسی او د ډیجیټل سواد کچه زیاتول د دغو نوښتونو د دوام لپاره حیاتي دي. کله چې ټکنالوژي د کلیوالي مالي نظام برخه شي، افغانستان کولای شي خپل خپاره واره اقتصادي فعالیتونه په یوه منسجم سیستم بدل کړي ترڅو سپما، تمویلات او سوداګري په خوندي ډول د ډیجیټل کانالونو له لارې جریان ومومي، او د کورنیو مالي مقاومت او د هېواد مالي ثبات پیاوړی کړي.

## مقرراتي چوکاټ

په افغانستان کې د کلیوالي بانکوالۍ پراختیا له قوي پالیسۍ او اداري ملاتړ څخه پرته نه شي بریالۍ کېدای. د افغانستان بانک په دې برخه کې د مقرراتي چاپېریال په جوړولو کې مهم رول لري چې تجارتي بانکونه او د وړو تمویلاتو مؤسسې هڅوي ترڅو خپل خدمات تر کلیو پورې وغځوي. د کلیوالي تمویلاتو لپاره روښانه لارښودونه د استازي بانکوالۍ لپاره ساده جوازونه، او هڅوونکي تدابیر لکه د مالیې معافیت یا د زیربناوو سبسایډۍ، مالي بنسټونه دې ته هڅوي چې په محرومو سیمو کې پانګونه وکړي. د حکومت د پراختیا پروژې لکه د اوبو لګولو سیستمونه، په لېرو پرتو سیمو کې سړکونه او برېښنا باید د مالي شمولیت له ستراتیژیو سره یوځای شي، ترڅو ټولنې بازارونو ته فزیکي لاسرسی ولري او د ودې د دوام لپاره مالي وسایل هم ترلاسه کړي. د کرنې او د کلیو د پراختیا په برخو کې د فعالو ادارو همغږي د مؤثریت کچه زیاتولای شي او د څارنې او ارزونې چوکاټونه د شفافیت او حساب ورکولو ضمانت کوي.

لیکنه: سید خالد خالقیار، د افغانستان بانک د نشراتو ارشد آفیسر

اخذلیکونه:

1. Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock. (2024). *Agricultural production and rural livelihoods in Afghanistan*. Kabul: MAIL.
2. World Bank. (2024). *Afghanistan rural economy: Opportunities and challenges*. Washington, DC: World Bank Publications.
3. Asian Development Bank. (2025). *Financial technology and rural banking in South Asia*. Manila: ADB.
4. United Nations Development Programme. (2024). *Policy frameworks for inclusive rural finance in Afghanistan*. New York: UNDP.



# جذب صدها میلیون دالر سرمایه گذاری خارجی؛ دستاورد سیاست اقتصاد محور امارت اسلامی افغانستان

افغانستان در سال های اخیر وارد مرحله ای تازه از تلاش برای توسعه اقتصادی و بهره برداری مؤثر از ظرفیت های طبیعی خود شده است. حضور سرمایه گذاران خارجی و تمایل شرکت های بین‌المللی برای سرمایه گذاری در بخش‌های انرژی، نفت، گاز و معادن، می تواند نشانه ای مهم از افزایش توجه به ظرفیت‌های اقتصادی و منابع طبیعی کشور باشد.

پس از دهه ها جنگ، نا امنی و رکود اقتصادی، حرکت به سوی جلب سرمایه گذاری، توسعه زیرساخت ها و استفاده مسئولانه از منابع طبیعی می تواند زمینه را برای ایجاد فرصت‌های شغلی، افزایش درآمد های عمومی، رشد تولید و تقویت پایه‌های اقتصادی افغانستان فراهم سازد.

یکی از نمونه های برجسته در این زمینه، قرارداد اکتشاف و استخراج نفت و گاز است که به تاریخ ۱۶ سنبله ۱۴۰۵ میان وزارت معادن و پترولیم افغانستان و شرکت سعودی دلتا انترنشنل در کابل به امضا رسید.

شماری از مقامات بلند پایه و میان مسئولان وزارت معادن و پترولیم و محترم شهر التفی، رئیس اجرائیه شرکت دلتا، به امضا رسید.

بر اساس معلومات ارائه شده، ارزش ابتدایی این قرارداد حدود ۲۰۰ میلیون دالر بوده و هدف آن اکتشاف نفت و گاز طبیعی در حوزه تیرپل در غرب افغانستان است. این پروژه بخش‌هایی از ولایت های هرات و بادغیس را دربر گرفته و مساحت مورد مطالعه آن حدود ۲۲ هزار کیلومتر مربع عنوان شده است.

مدت قرارداد ۲۵ سال تعیین گردیده که هشت سال نخست آن به فعالیت‌های اکتشافی اختصاص خواهد یافت. حوزه نفتی تیرپل نیز شامل هفت بلاک بوده و از ظرفیت قابل توجهی در بخش نفت و گاز برخوردار دانسته می‌شود.

در کنار این سرمایه گذاری، شرکت دلتا در چارچوب برنامه‌های خود بررسی



امکان احداث یک خط لوله گاز به طول حدود ۷۰۰ کیلومتر از هرات تا مناطق نزدیک به سپین‌بولدک قندهار را نیز مطرح کرده است؛ پروژه ای که هزینه احتمالی آن تا حدود ۱۰ میلیارد دالر برآورد شده است.

هدف از بررسی این خط لوله، ارزیابی ایجاد یک کریدور راهبردی انرژی است که در صورت عملی شدن، می تواند منابع گازی افغانستان را به بازارهای داخلی و در آینده به بازارهای منطقه ای متصل سازد. چنین زیرساخت هایی در درازمدت می تواند جایگاه جغرافیایی افغانستان را از یک کشور محاط به خشکه به یک مسیر مهم ترانزیت و اتصال اقتصادی میان آسیای مرکزی و جنوب آسیا تقویت کند.

حضور شرکت‌های بین‌المللی دارای تجربه و ظرفیت مالی در افغانستان، افزون بر سرمایه گذاری مستقیم، می تواند پیام مثبتی برای سایر سرمایه گذاران خارجی نیز داشته باشد و زمینه ورود سرمایه و فناوری بیشتر به بخش‌های مختلف اقتصاد کشور را فراهم سازد.

افغانستان از لحاظ منابع زیرزمینی یکی از کشورهای دارای ظرفیت قابل توجه در منطقه به شمار می رود. نفت، گاز، مس، آهن، لیتیوم، سنگ‌های قیمتی و سایر منابع معدنی، در صورت استخراج اصولی، شفاف و مدیریت شده، می توانند به یکی از پایه های اساسی رشد اقتصادی کشور تبدیل شوند.

استفاده درست از این ثروت می تواند درآمدهای دولت را افزایش دهد، زمینه ایجاد هزاران فرصت کاری را فراهم سازد، صنایع داخلی را تقویت کند و وابستگی اقتصادی کشور را در درازمدت کاهش دهد.

معادن افغانستان از نظر نوع، کیفیت و ارزش اقتصادی متفاوت اند و همین تفاوت ها در استخراج، قیمت گذاری، فروش و جذب سرمایه گذاری نقش اساسی دارد. خوشبختانه، کشور از ذخایر معدنی با کیفیت و ارزشمند برخوردار است که بهره برداری درست از آن ها می تواند افغانستان را در مسیر دستیابی به یک اقتصاد پایدار و رو به رشد قرار دهد.

معدن مس عینک یکی از شناخته شده ترین ذخایر معدنی افغانستان است که به دلیل حجم و اهمیت اقتصادی خود در سطح منطقه و جهان مورد توجه قرار گرفته است. همچنان حوزه‌های نفتی

کشور، از جمله چاه‌ها و حوزه نفتی قشقری، نمونه دیگری از ظرفیت‌های بزرگ طبیعی افغانستان به شمار می روند که توسعه آن ها می تواند در تأمین انرژی و افزایش عواید عمومی نقش مهمی ایفا کند.

اجرای پروژه‌های بزرگ در بخش نفت، گاز، معادن و زیرساخت های انرژی، تنها به استخراج منابع محدود نمی‌شود؛ بلکه می تواند زنجیره ای از فعالیت‌های اقتصادی را به حرکت درآورد. ایجاد فرصت‌های شغلی، توسعه راه ها و تأسیسات، انتقال دانش و فناوری، رشد صنایع جانبی، افزایش صادرات و ورود سرمایه خارجی از مهم ترین پیامدهای بالقوه چنین سرمایه گذاری هایی است.

اگر این روند با مدیریت سالم، شفافیت، حفظ منافع ملی و برنامه ریزی درازمدت همراه باشد، افغانستان می‌تواند از منابع طبیعی خود نه تنها به عنوان یک منبع درآمد، بلکه به‌عنوان موتور محرک توسعه عمومی استفاده کند.

سرمایه‌گذاری‌های بزرگ در بخش انرژی و معادن می‌تواند آغازگر فصل تازه‌ای در اقتصاد افغانستان باشد؛ فصلی که در آن به‌جای وابستگی، ظرفیت‌های داخلی محور رشد قرار گیرد و موقعیت جغرافیایی کشور نیز به فرصتی برای تجارت، ترانزیت و اتصال منطقه‌ای تبدیل شود.

افغانستان دارای سرمایه‌های طبیعی عظیم و موقعیت جغرافیایی کم نظیر است؛ اگر این ظرفیت‌ها با سیاست گذاری درست، مدیریت شفاف و سرمایه گذاری هدفمند همراه شوند، می توانند زمینه ساز آینده ای با ثبات تر، اقتصاد قوی تر و رفاه بیشتر برای مردم کشور باشند.

در مجموع، می‌توان گفت که عقد و عملی شدن چنین قراردادهایی می‌تواند تأثیر مستقیم و مثبتی بر ثبات پول افغانی داشته و زمینه را برای رشد و توسعه نظام بانکی کشور فراهم سازد. ورود منابع مالی و اسعار خارجی برای تمویل پروژه‌های بزرگ از مجرای نظام بانکی، از یک سو موجب افزایش جریان اسعار در کشور شده و از سوی دیگر، با تقویت فعالیت‌های اقتصادی، می‌تواند تقاضا برای پول افغانی را افزایش دهد. تداوم این روند، در صورت مدیریت مؤثر، می‌تواند به تقویت ثبات پولی و بهبود شرایط اقتصادی کشور کمک کند.

از این منظر، افزایش ورود اسعار و گسترش فعالیت‌های اقتصادی، اطلاعات و ظرفیت لازم را برای د افغانستان بانک به‌منظور طرح و اتخاذ سیاست‌های پولی مناسب فراهم می سازد. د افغانستان بانک می‌تواند با درنظرداشت تحولات در حجم نقدینگی، جریان اسعار، تقاضا برای پول افغانی و سایر شاخص‌های کلان اقتصادی، اقدامات و سیاست های پولی متناسب را روی دست گیرد تا ضمن حفظ ثبات ارزش پول افغانی، زمینه برای ثبات مالی و رشد پایدار اقتصادی نیز مساعد شود. بنابراین، جذب سرمایه گذاری خارجی نه تنها از منظر تأمین منابع مالی برای پروژه‌های بزرگ حایز اهمیت است، بلکه می تواند از طریق تقویت نظام بانکی و افزایش جریان اسعار، در مؤثریت سیاست‌های پولی و تأمین ثبات اقتصادی کشور نیز نقش برجسته‌ای ایفا کند.

**نویسنده:** زیرک ملیا فوتو ژورنالیست د افغانستان بانک

---

منابع:

https://momp.gov.af/index.php/dr

https://www.tasnimnews.ir/fa/news/1405/06/16/3691070

https://tolonews.com/fa/afghanistan-200741



# ډیجیټلي زیربناوې

(دا مقاله د پیسو نړیوال صندوق له وېبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

د مالیې وزارتونه باید ډیجیټلي عامه زیربنا ته هم د سړکونو او بریښنا شبکو په څېر ارزښت او پاملرنه ولري. لکه څنګه چې هېڅ حکومت د دوو ښارونو یا سیمو ترمنځ لسګونه جلا سړکونه نه جوړوي، په ډیجیټلي خدمتونو کې هم باید د هرې ادارې لپاره جلا او بېل سیستمونه رامنځته نه شي. خو په عمل کې وضعیت بل ډول دی. ډېرى هېوادونه د معلوماتي ټکنالوژۍ پر بېلابېلو پروژو میلیاردونه ډالر لګوي، پرته له دې چې دې ټکي ته کافي پام وکړي چې ډیجیټلي سیستمونه باید د یوې ګډې او عمومي زیربنا په توګه طرحه او اداره شي. د دې ناسمې تګلارې له امله هره دولتي اداره خپل جلا سیستم جوړوي. په پایله کې، سیستمونه له یو بل څخه بېل پاتې کېږي، د معلوماتو شریکول ستونزمنېږي او دولتي ادارې او خصوصي سکتور نه شي کولای له شته معلوماتو په اغېزناکه توګه ګټه واخلي.

اوس تصور وکړئ چې د بنسټیزو ډیجیټلي سیستمونو؛ لکه ډیجیټلي پېژندپاڼې، ډیجیټلي اداینو سیستمونه، د معلوماتو د تبادلې پلټفورمونه، ډیجیټلي اعتباري سندونه او نور ګډ خدمتونه، هماغسې وګڼل شي لکه سړکونه او د بریښنا شبکې یعنې داسې بنسټیزې، ګډې او اوږدمهاله زیربناوې چې د حکومت او اقتصاد بنسټیزې چارې پرې ولاړې وي او له پیل څخه د دې لپاره طرحه شوې وي چې په پراخه کچه او بیا بیا ترې ګټه واخیستل شي.

د دې لیدلوري پلي کول یوازې د ټکنالوژۍ موضوع نه ده؛ بلکې په فکر او پالیسۍ کې دوه مهم بدلونونه غواړي:

**اقتصادي بدلون**

لکه څنګه چې سړکونه ښارونه او سیمې سره نښلوي، همداسې ډیجیټلي عامه زیربنا دولتي ادارې، خصوصي سکتور او نور بنسټونه سره نښلوي او د اقتصادي ارزښت د رامنځته کېدو امکانات څو برابره زیاتوي.

د بېلګې په توګه، د هند د آدهار ډیجیټلي پېژندپاڼې سیستم حکومت ته مستقیمې ګټې رسولې دي. دغه سیستم د درغلیو او ناحقو امتیازونو د مخنیوي او د حکومتي لګښتونو د کمولو په برخه کې مرسته کړې ده. خو د دغه سیستم ارزښت یوازې تر همدې ګټو محدود نه دی؛ هرڅومره چې یې ډېر خلک او ادارې وکاروي، هماغومره یې ټولیزې ګټې هم پراخېږي. حکومت کولای شي خدمات په ډېر دقت اړمنو کسانو ته ورسوي او خلک په

خوندي ډول روغتيايي او ښوونيزو خدمتونو ته لاسرسی پيدا کړي.

د وخت په تېرېدو سره دا ډول سيستمونه حتا بازارونه بدلولای شي او يا نوي بازارونه رامنځته کولای شي. که يو هېواد داسې ډيجيټلي پېژندپاڼه ولري چې د هر وګړي هويت په باوري ډول تاييد کړي، مالي اداري به د قانوني مقرراتو د پلي کولو لپاره لږ لګښت وکړي، خلکو ته به پورونه په آسانه ورکړل شي او د اقتصاد په بېلابېلو برخو کې به د نوو سوداګريزو کړنو زمينه برابره شي. په هند کې د آدهار سيستم د پېرېدونکو د هويت د تثبيت لګښتونه په بې‌ساري ډول راکم کړل او ورسره د ګرځنده ټيليفونونو کارول هم په چټکۍ سره زيات شول.

د نورو زېربناوو په څېر، د ډيجيټلي عامه زېربنا تر ټولو ستر اقتصادي اغېز مستقيمې ګټې نه دي، بلکې هغه پراخې اقتصادي کړنې دي چې د همدې زېربنا په مرسته رامنځته کېږي. دا وضعيت د نوي اورګاډي پټلۍ له جوړېدو سره ورته دی؛ اصلي ګټه يوازې د اورګاډي چلول نه دي، بلکې هغه اقتصادي پرمختګ دی چې د دغې پټلۍ په اوږدو کې رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه، مالاوي هغه مهال د پورونو بازار لا اغېزمن کړ چې د بايومټريک پېژندنې سيستم يې رامنځته کړ. دې کار پور ورکوونکو ته زمينه برابره کړه چې د پور اخيستونکو هويت په دقيق ډول تاييد کړي. په پايله کې، د پورونو د بيا نه ورکولو خطر کم شو، پورونو ته د خلکو لاسرسی زيات شو او په ځانګړې توګه هغو ټولنيزو ډلو ته نوي اقتصادي فرصتونه برابر شول چې تر دې وړاندې له مالي خدمتونو بې‌برخې وې.

خو دا مثبتې پايلې حتمي نه دي. ډېری هېوادونو د ډيجيټلي عامه زېربناوو په برخه کې پانګونه کړې، خو لا يې هم نه د يوې ګډې زېربنا په توګه اداره کوي او نه ورته د زېربناوو په څېر مالي سرچينې ځانګړې کوي.

د ډيجيټلي عامه زېربناوو د نقشې جوړولو يو نړيوال نوښت، چې د لندن پوهنتون کالج په مشرۍ ترسره کېږي، له ٦٤ څخه ډېر د ملي ډيجيټلي پېژندنې پروګرامونه، ٩٧ د ډيجيټلي ادايينو سيستمونه او ١٠٣ د معلوماتو د تبادلې چوکاټونه په ګوته کړي

چې د زېربناوو په څېر د پراخې کارونې وړتيا لري. خو سره له دې، يوازې لږ شمېر يې په پراخه کچه کارول کېږي. يوازې شاوخوا نيمايي عمومي پېژندنې سيستمونه د دوو يا تر دوو ډېرو دولتي خدمتونو لخوا کارول کېږي. د بېلګې په توګه، سويلي افريقا د عمومي معلوماتو د تبادلې اته چوکاټونه لري چې هر يو يې په جلا ډول فعاليت کوي.

**د دولت ظرفيت**

دويم بنسټيز بدلون د دولت له ظرفيت سره تړاو لري. د ډيجيټلي ټکنالوژۍ پراختيا د خلکو تمې لوړې کړې دي. اوس خلک له حکومت څخه داسې خدمتونه غواړي چې چټک، اغېزناک او له غيرضروري ځنډونو او پېچلتياوو پاک وي.د دې ډول خدمتونو وړاندې کول د دولت پر ګڼو بنسټيزو وړتياوو پورې تړلي دي؛ په ځانګړي ډول پر دې چې بېلابېل معلوماتي سيستمونه له يو بل سره ونښلوي او له بېلابېلو معلوماتي زېرمو څخه په اغېزناکه توګه ګټه واخلي. خو په ډېرو هېوادونو کې دولتي ادارې خپل ډيجيټلي خدمتونه، د هويت د تثبيت سيستمونه او بېلابېل اپليکېشنونه په جلا جلا ډول جوړوي. دا ټوټه‌ټوټه تګلاره نه يوازې لګښتونه او تخنيکي پېچلتيا زياتوي، بلکې کوچنيو ادارو او خدمتونو ته هم زيان رسوي، د دولت وړتيا کمزورې کوي او په پايله کې حکومت نه شي کولای معلومات سره يوځای او ستونزو ته پر وخت او اغېزناک ځواب ووايي.

په ټوله کې، که ډيجيټلي زېربنا د يوې ګډې او عمومي زېربنا په توګه ونه ګڼل شي، د دولت ظرفيت کمزورېږي. په پايله کې د حکومت اعتبار، سرچينې او دا وړتيا زيانمنېږي چې له نويو شرايطو سره ژر ځان عيار کړي او د نوو ستونزو پر وړاندې مؤثر غبرګون ونښيي. که حکومتونه د ډيجيټلي زېربنا لپاره پراخ او ستراتيژيک چوکاټ رامنځته نه کړي، دا به پر اقتصاد او د حکومت پر مؤثريت منفي اغېز وکړي؛ په ځانګړې توګه په داسې وخت کې چې د نړۍ جغرافيايي سياست او اقتصادي بې‌ثباتي ورځ تر بلې زياتېږي.

دا موضوع د ماليې وزارتونو لپاره هم نوې نه ده. موږ د تېر کال په اوږدو کې د نړۍ له پنځوسو څخه د زياتو هېوادونو د خزانې او

مالیې له چارواکو سره یو لړ ورکشاپونه ترسره کړل. په دغو غونډو کې ډېرو ګډونوالو ټینګار وکړ چې ډیجیټلي عامه زېربنا کولای شي د تکراري کارونو مخه ونیسي، اداري لګښتونه راکم کړي، د مالیاتو راټولول اسانه کړي او د حکومت د څارنې او حساب ورکونې وړتیا پیاوړې کړي. خو نږدې ټولو چارواکو پر یوې مهمې اندېښنې ټینګار وکړ: د هرې پانګونې ارزښت او پایلې باید په لنډه موده کې په څرګند ډول ولیدل شي. همدا لنډمهاله تمه تر یوه بریده روښانوي چې ولې د ډېرو هېوادونو د مالیې وزارتونه لا هم د ډیجیټلي سیستمونو د تمویل پر مهال جلا، تکراري او ټوټه‌ټوټه پروژو ته بودجه ځانګړې کوي.

دوی دا هم مني چې مخ پر زیاتېدو څېړنې ښیي د ارزونې دودیزې لارې، لکه د لګښت او ګټې تحلیل، د زېربناوو ټولیز ارزښت په سمه توګه نه شي څرګندولای. دا ډول ارزونې په ټولیزه توګه پر یوې ځانګړې پروژې تمرکز کوي، د بېلابېلو سیستمونو ترمنځ پېچلې اړیکې ډېرې ساده ګڼي، لنډمهاله پایلو ته لومړیتوب ورکوي، د یوې پانګونې پراخې او غیرمستقیمې اغېزې له پامه غورځوي او دا هم نه شي ارزولای چې ګټې یې د ټولنې د بېلابېلو برخو ترمنځ څنګه وېشل کېږي. لکه څنګه چې د مالیې وزارت یو چارواکي وویل: په بودجه کې د هغو سیستمونو لپاره ځانګړې برخه نشته چې ټولې اداري ترې ګټه اخلي، خو د تمویل او مسئولیت لپاره یې کومه ځانګړې اداره هم نه ده ټاکل شوې.

**د حکومت په کچه پراخ بدلون**

زموږ ورکشاپونه او له څېړونکې سومیده دیشموخ سره په ګډه چمتو شوی د پالیسۍ سند دې مهمې ننګونې ته اشاره کوي چې د سافټویرونو له جلا جلا پروژو څخه عامه ډیجیټلي زېربناوو ته د بدلون لپاره یوازې ښه تخنیکي ډیزاین بسنه نه کوي. د ډیجیټلي چارو مسؤل وزارتونه یوازې په خپل واک سره ډېری وخت نه شي کولای چې په ټول حکومت کې دا ډول بدلون رامنځته کړي؛ ځکه د بودجې د کنټرول واک نه لري، د بېلابېلو وزارتونو ترمنځ د همغږۍ لپاره کافي صلاحیت نه لري او د ګډو معیارونو د پلي کېدو د تضمین لپاره لازم اداري ځواک هم ورسره نشته.

له همدې امله، د مالیې وزارتونه کولای شي دا تشې ډکې کړي؛ ځکه دوی هغه مالي واک او د همغږۍ وړتیا لري چې د ګډو ډیجیټلي سیستمونو د پلي کېدو، پراخې کارونې او اوږدمهاله دوام لپاره اړین دي. د ډیجیټلي زېربناوو د پلي کېدو لارښوونه، د وزارتونو ترمنځ همغږي، د ګډو معیارونو ټاکل او د شته سرچینو بیا تنظیمول هغه مهم عوامل دي چې د دې بدلون دوام او بریالیتوب تضمینولای شي. البته دا بدلون آسانه نه دی؛ ځکه درې اساسي ننګونې شته چې ډېری وخت د دې لارې خنډ ګرځي.

**لومړۍ ننګونه: د ادارو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی**

د مالیې وزارتونه پوهېږي چې ډیجیټلي زېربنا د سیستمونو د ښلولو او د اغېزناکتیا د زیاتولو لپاره اړینه ده؛ خو له بلې خوا باید د نورو وزارتونو د پرېکړو واک او اداري صلاحیتونو ته هم درناوی وشي. په عمل کې، د مالیې وزارتونه ډېری وخت د مخکښ رول پر ځای غبرګون ښودونکی رول لوبوي. یعنې د دې پر ځای چې له لومړیو پړاوونو څخه د ډیجیټلي ستراتیژیو په جوړولو کې ونډه واخلي، یوازې وړاندې شوې طرحې ارزوي. لکه څنګه چې یوه چارواکي وویل: "موږ ګول ساتونکي یو، نه برید کوونکي لوبغاړي". په ډېرو مواردو کې د ډیجیټلي سیستمونو تخنیکي تخصص د مالیې له وزارت سره نه، بلکې له نورو وزارتونو او تخنیکي ادارو سره وي. حکومتونه باید داسې ستراتیژیکه تګلاره غوره کړي چې د مالیې وزارت ته اجازه ورکړي تر څو د ګډو ډیجیټلي چوکاټونو له لارې رامنځته کېدونکې اغېزناکتیا او نوښتونه پیاوړي کړي.

**دویمه ننګونه: د دوامدار تمویل برابرول**

ډیجیټلي عامه زېربنا د جوړولو، ساتنې او پراختیا لپاره اوږدمهاله پانګونې ته اړتیا لري؛ خو سیاسي او بودجوي فشارونه ډېری وخت ژر ترلاسه کېدونکو پایلو ته لومړیتوب ورکوي. زموږ په ورکشاپونو کې څو چارواکو اندېښنه څرګنده کړه چې د مرستندویو بنسټونو لخوا تمویل کېدونکې پروژې کله ناکله د اوږدمهاله مالي ملاتړ له روښانه پلان پرته پیل کېږي. همدارنګه، د دغې زېربنا لګښتونه په بېلابېلو بودجوي برخو کې وېشل کېږي چې له امله یې منظم پلان او مدیریت ستونزمنېږي.

**درېیمه ننګونه: د پروژو ارزونه**

ډېری ډیجیټلي وړاندیزونه د لګښت ګټې د تحلیل له لارې ارزول کېږي؛ خو دا وسیله د ډیجیټلي عامه زېربنا اوږدمهاله او بېلابېلو سکتورونو ترمنځ خپرېدونکي اغېزونه په سمه توګه نه شي سنجولای.

چارواکو د ګډو ډیجیټلي چوکاټونو د راتلونکو ګټو د اټکل ستونزه هم یاده کړه؛ په ځانګړې توګه هغه مهال چې ارزښت یې یوازې د مستقیمو سپماوو له لارې نه، بلکې د خدمتونو د ښه والي، د سرچینو د ضایع کېدو د کمېدو او یا د نوو وړتیاوو د رامنځته کېدو له لارې ترلاسه کېږي.

ډېرو چارواکو ټینګار وکړ چې د ډیجیټلي عامه زېربنا لپاره باید روښانه او عملي کارونې موجودې وي او لومړنۍ بریاوې باید ژر ترلاسه شي، څو د دې بهیر د لا پراختیا لپاره لازم ملاتړ او تحرک رامنځته شي؛ که څه هم د دې زېربنا پراخې ګټې ښایي د څرګندېدو لپاره څو کلونو ته اړتیا ولري. همدا ننګونې ښیي چې د ډیجیټلي عامه زېربنا اړوندې کتنې باید د حکومتونو د عامه پانګونې د مدیریت په چوکاټونو او څوکلنو بودجوي پلانونو کې په پام کې ونیول شي.

**د مالیې وزارتونو د رول بدلون**

زموږ څېړنه ښیي چې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د مالیې وزارتونه د اوږدمهاله پانګونې لپاره نوې لارې خپلوي او د دودیز لګښت ګټې د تحلیل ترڅنګ بدیلې تګلارې هم کاروي. په دې بهیر کې د دولتونو لپاره درې بېلابېل رولونه راڅرګند شوي؛ خو دا ثابت ماډلونه نه دي، بلکې د دندو یوه پراخه لړۍ ده چې چارواکي یې د خپلو شرایطو او اړتیاوو له مخې غوره کوي.

ځینې د مالیې وزارتونه د ارزونکي رول ترسره کوي؛ یعنې ډیجیټلي وړاندیزونه له دې پلوه ارزوي چې د ګډې ډیجیټلي زېربنا په توګه د پراختیا او اوږدمهاله کارونې څومره وړتیا لري. په بریتانیا کې د ټول حکومت لپاره د ګډو خبرتیاوو سیستم (GOV.UK Notify) په تدریجي ډول پر یوه معیار بدل شوی او دې کار پراخ بحثونه راپارولي چې ګډ ډیجیټلي سیستمونه باید څنګه وارزول شي. اوس چې بریتانیا نور ډیجیټلي زېربنایي خدمتونه، لکه (GOV.UK Pay) او (GOV.UK One Login) هم رامنځته کوي، دا پوښتنه مطرح ده چې دغه خدمتونه باید څنګه تمویل او په مناسب ډول وارزول شي.

ځینې نور د مالیې وزارتونه د همغږي کوونکي او معیار ټاکونکي رول ترسره کوي. دوی د بودجې له بهیرونو څخه کار اخلي تر څو د بېلابېلو ادارو پانګونې سره همغږې کړي، د تکراري پروژو مخه ونیسي او د ګډو سیستمونو کارول وهڅوي. په یوګانډا کې د مالیې وزارت او د عمومي پلان جوړونې ادارې د پروګرام‌محوري بودجې یو ماډل رامنځته کړی چې له مخې یې دولتي ادارې اړ دي خپلې د معلوماتي ټکنالوژۍ اړتیاوې په ګډه وړاندې کړي.

په دې توګه، مالیې وزارت کولای شي ورته او تکراري وړاندیزونه وپېژني او موجودې زېربناوې د لومړني انتخاب په توګه وړاندې کړي. د تدارکاتو تګلارې اوس ادارې اړ باسي چې د عمومي معلوماتي ټکنالوژۍ له تنظیموونکي بنسټ څخه مخکې له مخکې تأیید ترلاسه کړي، څو تخنیکي معیارونه او د سیستمونو د ګډې کارونې وړتیا پیاوړې شي.

لکه څنګه چې یوه چارواکي وویل: "هېڅ دلیل نشته چې یوه اداره داسې خدمت تدارک کړي چې موږ یې له مخکې لرو." په ځینو نادرو مواردو کې د مالیې وزارتونه د ډیجیټلي عامه زېربنا د بنسټیزو برخو د بشپړ پلي کولو مسؤلیت هم پر غاړه اخلي. د بېلګې په توګه، په کمبودیا کې کام ډیکس د معلوماتو د تبادلې یو چوکاټ دی چې په پیل کې د سوداګریزو ثبتونو لپاره جوړ شوی وو؛ خو اوس تر دې پراخې دندې هم ترسره کوي.

دا رولونه له یو بل سره په ټکر کې نه دي؛ بلکې یو بل بشپړوي. د دوی ګډ اصل دا دی چې ډیجیټلي عامه زېربنا یوازې یوه تخنیکي پانګونه نه، بلکې یوه عامه شتمني ده. د مالیې وزارتونه اړ نه دي چې دا زېربنا خپله جوړه کړي؛ بلکې د دوی بنسټیزه دنده دا ده چې د هغې د بریالیتوب لپاره مناسب اصول، هڅوونکي عوامل او لازم شرایط رامنځته کړي. د ډیجیټلي سیستمونو د بنسټیزې زېربنا په توګه د بشپړ ظرفیت د څرګندولو لپاره یوازې مالي څارنه

بسنه نه کوي؛ بلکې ستراتیژیک او مسؤلانه مدیریت هم اړین دی.
د دغو رولونو او دندو یو مهم اړخ دا دی چې د مالیې وزارتونه به دا نوې ډیجیټلي زېربنا څنګه اداره او تنظیموي؛ په ځانګړې ډول ځکه چې دوی د بودجې جوړولو، د مالي خطرونو د مدیریت او د عامه پیسو د اغېزناکه لګښت د تضمین بنسټیز مسؤلیت لري. د عامه سرچینو د ساتونکو په توګه، د مالیې وزارتونه په داسې ځانګړې موقعیت کې دي چې د مالي پایښت، اوږدمهاله او مسؤلانه مدیریت او د خلکو د باور د ساتنې په څېر مهمو ننګونو ته ځواب ووایي.

## ډیجیټلي دولت

لکه څنګه چې حکومتونه د مصنوعي ځیرکتیا او ډیجیټلي خدمتونو کارونه پراخوي، د جلا جلا او ټوټه‌ټوټه سیستمونو د ساتنې لګښتونه به، د معلوماتو له زېرمه کولو څخه نیولې تر محاسبوي ځواک پورې، په چټکۍ سره زیات شي. د دې ستونزې د حل لپاره ګډه ډیجیټلي زېربنا یوه اغېزناکه لاره وړاندې کوي؛ داسې پراخېدونکي او یوځای شوي چوکاټونه چې کولای شي په اوږده مهال کې عامه ارزښت رامنځته کړي.
خو د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره، دولتونه باید نوې وړتیاوې رامنځته کړي، تر څو د ډیجیټلي سیستمونو اغېزناکه حکومتولي، د خلکو باور او مسؤلانه مدیریت تضمین شي. ډیجیټلي پېژندپاڼې، د اداینو سیستمونه او د معلوماتو د تبادلې شبکې هغه وخت بریالۍ کېدای شي چې د خلکو باور ترلاسه کړي؛ خو که دا سیستمونه د خلکو د څارنې په وسیلو بدل شي، یا د اداري چارو په آسانتیا او د اداري بار په کمولو کې مرسته ونه کړي، نو د خلکو له مقاومت او نه منلو سره به مخ شي.
په پایله کې، د ډیجیټلي کېدو د دوام له امله به د سیستمونو د ټوټه‌ټوټه پاتې کېدو خطر او ورسره تړلي اقتصادي او ټولنیز لګښتونه لا زیات شي. دا لګښتونه په ځانګړي ډول د کړکېچونو پر مهال ډېر څرګند او جدي اغېز لري. د بېلګې په توګه، د کوویډ-
۱۹ وبا پر مهال، متحده ایالاتو د معاشونو د ساتنې پروګرام لپاره ۸۰۰ میلیارده ډالره ځانګړي کړل. د ډیویډ اوټور او د هغه د همکارانو د څېړنې له مخې، له دغو مرستو څخه په غوره حالت کې یوازې د څلورمې برخې او درېیمې برخې ترمنځ برخه هغو کارکوونکو ته ورسېده چې تر ټولو ډېره اړتیا یې ورته لرله، په داسې حال کې چې پاتې مرستې تر ډېره شتمنو کورنیو ته ورسېدې.
دوی ټینګار وکړ چې د عصري اداري سیستمونو په کارولو سره، نورو لوړ عاید لرونکو هېوادونو وکولای شول د وبا پر مهال سوداګریزې مرستې په لا ډېر هدفمند ډول هغو شرکتونو ته ورسوي چې له مالي ستونزو سره مخ وو.
لکه څنګه چې ډېری حکومتونه او مرستندویه بنسټونه د تکراري ډیجیټلي پروژو پر ځای ګډو زېربناوو ته مخه کوي، د مالیې وزارتونه په دې بدلون کې مهم مسؤلیت لري. د دوی له رهبرۍ پرته، ډیجیټلي زېربناوې ښايي د ازمایښتي پروژو په داسې هدیره بدلې شي چې ډېرې ټوټه‌ټوټه، ګران بیه او د دوام لپاره ستونزمنې وي. له همدې امله، د مالیې وزارتونه باید یو مهم بدلون رهبري کړي؛ داسې بدلون چې د جلا جلا پروژو د تمویل پر ځای د ګډو زېربناوو رامنځته کولو، له لنډمهاله سپما څخه د اوږدمهاله عامه ارزښت رامنځته کولو او له ټوټه‌ټوټه مالکیت څخه د بنسټیز او مسؤلانه مدیریت پر لور د حرکت زمینه برابره کړي.

**لیکوالان:** ډاین کویل، ډېوېډ ایوز او بېاتریز واسکونسیلوس
**ژباړونکی:** صفي احمد ناصري د افغانستان بانک د ژباړې د بورډ غړی

**د مقالې لینک:**
https://www.imf.org/en/publications/fandd/issues/2026/03/digital-infrastructure-diane-coyle

# اقتصادي خبرونه

**ټاپي پروژه په هرات کې د ګازو د پلور پړاو ته نږدې شوې**

د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ د ټاپي ګاز نل لیکه له اوږده ځنډ وروسته په افغانستان کې د



ترکمنستان د ګاز د لومړني پلور پیل ته نږدې شوې ده. د «تایمز آف سنټرل ایشیا» د راپور له مخې، په هرات کې د ټاپي پروژې اړوند د نل لیکې چارې بنايي په راتلونکو دوو میاشتو کې بشپړې او د ګاز لېږد لپاره چمتو شي. تر اوسه په افغانستان کې شاوخوا ۱۱۶ کیلومتره نل لیکه ځغول شوې ده. د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت هم ویلي چې په هرات کې د ټاپي پروژې چارې په چټکۍ روانې دي او ټاکل شوې د ژمي له رارسېدو مخکې بشپړې شي.

**ابراز علاقه‌مندی کویت برای بازرگانی و سرمایه‌گذاری در افغانستان**

افغانستان و کویت در تلاش برای گسترش پیوندهای اقتصادی و بازرگانی‌اند. نمایندگان یک شرکت بزرگ بازرگانی کویتی در دیدار با مقام‌های افغانستان، از علاقه‌مندی برای آغاز بازرگانی و سرمایه‌گذاری در کشور خبر داده‌اند. ابوناصر محمد، رییس اجرایی شرکت بازرگانی "مجموعة‌السایر" با نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت، درباره فرصت‌های بازرگانی، سرمایه‌گذاری، صادرات و فعالیت در بخش‌های گوناگون اقتصادی گفت‌وگو کرده است. محمدآصف الیاس، سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت، در این باره گفت: وزیر صنعت و تجارت، از علاقه‌مندی آقای ابوناصر محمد به تجارت و سرمایه‌گذاری در افغانستان ستایش کرده و افزود که این وزارت در بخش‌های صنعت، بازرگانی، سرمایه‌گذاری، ترانزیت و تشبثات مسوولیت دارد و آماده‌ی همکاری همه‌جانبه با سرمایه‌گذاران و بازرگانان می‌باشد. در همین حال، در دیدار دیگری میان امیرخان متقی، وزیر خارجه و رییس اجرایی همین شرکت کویتی، فرصت‌های بازرگانی و سرمایه‌گذاری در افغانستان نیز بررسی شده است. این شرکت گفته که می‌خواهد پیوند بازرگانی خود با افغانستان را آغاز کند و میوه‌های تازه و خشک افغانستان را به کویت و دیگر بازارها صادر کند. با این حال، آمارهای موجود نشان می‌دهد که حجم بازرگانی افغانستان و کویت هنوز پایین است. محمدطاووس فرزاد، آگاه اقتصادی، در باره اهمیت پیوندها با کویت گفت: "اگر بتوانیم سرمایه‌گذاران کویتی را که در بخش نفت و گاز تجربه و توانایی‌های فنی خوبی دارند، برای سرمایه‌گذاری در افغانستان جذب کنیم، این می‌تواند در توسعه و استخراج منابع نفت و گاز کشور و انتقال تجربه و تکنالوژی مؤثر باشد." قطب‌الدین یعقوبی، یکی دیگر از آگاهان اقتصادی، در این باره افزود: "کویت می‌تواند در بخش کشاورزی و فرآوری و بسته‌بندی فرآورده‌های

کشاورزی افغانستان، از جمله زعفران، میوه‌های خشک، قالین و برخی دیگر از محصولات باارزش، نقش مهمی ایفا کند و زمینه افزایش ارزش و بهای این فراورده‌ها را فراهم کند." در صورتی‌که علاقه‌مندی‌های مطرح‌شده در این دیدارها به سرمایه‌گذاری و قراردادهای عملی منجر شود، پیوند اقتصادی با کویت می‌تواند برای افغانستان در بخش جذب سرمایه، افزایش صادرات و دسترسی به بازارهای تازه اهمیت بیش‌تری پیدا کند.



**په هېواد کې د غیرنغدي تادیاتو د پراختیا هڅې**

د افغانستان بانک وايي، اوس مهال په هېواد کې ۹ شرکتونه د غیرنغدي تادیاتو په برخه کې فعالیت کوي. دغه بانک د غیرنغدي تادیاتو خدمتونو ته د تقاضا د زیاتېدو په یادولو سره وايي، د ظرفیت لوړولو او د هېواد په بېلابېلو برخو کې د دغو خدمتونو د پراختیا لپاره هڅې روانې دي.

حسیب‌الله نوري، د افغانستان بانک ویاند، وویل: "موخه دا ده چې په هېواد کې نغدي راکړه ورکړه کمه او غیرنغدي راکړه ورکړه پراخه شي. دغه راز زموږ هېوادوال د نړیوالو معیارونو له بانکي آسانتیاوو برخمن شي. له هېوادوالو هم غواړو چې د دغو خدمتونو په پراختیا کې مرسته وکړي." هممهاله، د افغانستان د بانکونو ټولنه هم په ټول هېواد کې د غیرنغدي تادیاتو د خدمتونو پر پراختیا ټینګار کوي. د دغې ټولنې په باور، د غیرنغدي تادیاتو پراختیا کولای شي د راکړې ورکړې د آسانتیا، د نغدو پیسو د کارونې د کمېدو او په مالي معاملو کې د روڼتیا د زیاتېدو زمینه برابره کړي. نجیب‌الله امیري، د افغانستان د بانکونو ټولنې رییس، وویل: "په وروستیو کلونو کې بانکونو په دې برخه کې ډېر کار کړی، خو هغه وسایل او اپلیکېشنونه رامنځته او پراخ کړي چې په دې برخه کې ورته اړتیا ده." د غیرنغدي تادیاتو د خدمتونو یو شمېر شرکتونه، که څه هم په هېواد کې د دغو خدمتونو د نسبي پراختیا خبره کوي؛ خو د هېواد په ځینو برخو کې باثباته او چټک انټرنټ ته نه لاسرسی په ټول افغانستان کې د دغو خدمتونو د پراختیا له سترو خنډونو بولي. سنزر کاکړ، د حساب‌پې مسئول، وویل:" د هېواد په ځینو برخو کې چټک انټرنټ نشته. هر څومره چې په یوه سیمه کې انټرنټي خدمتونه پراخېږي، په هماغه کچه به د غیرنغدي تادیاتو خدمتونه هم پراخ شي." که څه هم د افغانستان په ځینو لویو ښارونو کې په ورځنیو معاملو او سوداګریزو فعالیتونو کې د ډیجیټلي خدمتونو کارول مخ په زیاتېدو دي؛ خو انټرنټ ته محدود لاسرسی، د ډیجیټلي مالي خدمتونو په اړه د ځینو خلکو کمه پوهه او د اړینو زېربناوو د پراختیا اړتیا هغه ننګونې بلل کېږي چې په هېواد کې د دغو خدمتونو د پراختیا بهیر ټکنی کولای شي.

**سرچینې:**

۱- سپوږمۍ راډیو، ۱۴۴۸ربیع الاول ۱۷ ۲- طلوع نیوز، ۱۲ ربیع الاول ۱۴۴۸ ۳- طلوع نیوز، ۱۴۴۸ ربیع الاول ۱۱



# د چټکو ادراینو سیستمونه څنګه اقتصادي وده او مالي شمولیت پیاوړی کوي

(دا مقاله د نړیوال بانکی له ویبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

ډیجیټلي چټکې ادراینې یوازې د ټکنالوژۍ موضوع نه ده، بلکې خلکو ته دا وړتیا ورکوي چې پر خپلو مالي چارو لا زيات کنټرول ولري. د ۲۰۲٦ کال د جون تر میاشتې پورې، د نړۍ په ۱۳۷ هېوادونو کې خلک او سوداګریز بنسټونه د اوونۍ په ټولو ورځو کې ۲۴ ساعته د چټکو ادراینو خدمتونو ته لاسرسی لري، چې له امله یې ورځنۍ مالي راکړې ورکړې ارزانه، چټکې او لا ډېرې د لاسرسي وړ شوې دي.

هغه کوم لاملونه دي چې چټکو ادراینو کارول زیاتوي؟

اټکل کېږي چې د چټکو ادراینو نړیوال بازار به له ۲۰۲۵ څخه تر ۲۰۳۰ کال پورې هر کال په منځنۍ ډول د ۳۵.۵ سلنې مرکبې کلنۍ ودې شاهد وي. د دې ودې له مهمو لاملونو څخه د بانکونو او غیربانکي خدمتونو وړاندې کوونکو ترمنځ د متقابلې همکارۍ پراختیا، د سیالۍ زیاتوالی او نوښتونه ګڼل کېږي. سربېره پر دې، د کیو آر کوډونو، بدیلو پېژندنو او د پیسو غوښتنې په څېر اضافي خدمتونه هم د چټکو ادراینو د کارونې په پراختیا کې مهم رول لري. دغه خدمتونه د پرانیستو مالي چوکاټونو ترڅنګ د نوو مالي محصولاتو د رامنځته کېدو زمینه برابروي. یاد محصولات د ټولنې د بېلابېلو قشرونو د اړتیاوو له مخې طرحه کېږي، په ځانګړې توګه د هغو اشخاصو او سوداګریزو بنسټونو لپاره چې ډېرى وخت رسمي مالي خدمتونو ته محدود لاسرسی لري یا ترې

بې‌برخې پاتې دي.

د نړیوال بانک ډلې د ګلوبل فینډیکس ۲۰۲۵ کال معلومات هم دغه پرمختګ تاییدوي. د دغو معلوماتو له مخې، په ۲۰۲۴ کال کې په ټیټ او منځني عاید لرونکو هېوادونو کې ٦٢ سلنه لویانو ډیجیټلي اداینې ترسره کړي یا ترلاسه کړې دي، چې د ۲۰۲۱ کال د ثبت شوې کچې په پرتله ٦ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدارنګه، د چټکو اداینو د سیستمونو اغېز یوازې د هغو د کارونې تر کچې محدود نه دی، بلکې تر ډېره پورې په دې پورې تړلی دی چې دغه سیستمونه د سوداګریزو بنسټونو، د دولت د مالي لېږدونو او د سوداګریزو اکمالاتي ځنځیرونو له بهیرونو سره تر کومې کچې مدغم او په عملي توګه کارول کېږي.

**چټکې اداینې څنګه د کارموندنې او اقتصادي ودې ملاتړ کوي؟**

د نړیوال بانک ډلې په یوه تازه خپره شوې مقاله کې چې د «چټکې اداینې د لوی اقتصاد د بنسټیزې زېربنا په توګه» تر سرلیک لاندې خپره شوې، څېړل شوي چې چټکې اداینې د دوو مهمو لارو له مخې پر اقتصاد اغېز کوي.

لومړی لاره د نغدو پیسو د ګردښت چټکتیا ده. کله چې سوداګر، عرضه کوونکي، کارکوونکي یا د مالي مرستو ترلاسه کوونکي خپلې پیسې سمدستي ترلاسه کړي، هغه مالي سرچینې چې پخوا د تصفیې د ځنډ له امله بندې پاتې کېدې، سمدستي د کارونې وړ ګرځي. دا کار د احتیاطي نغدو پیسو اړتیا کموي، کاري پانګه آزادوي او په ځانګړې توګه له کوچنیو او منځنیو سوداګریزو بنسټونو سره مرسته کوي چې خپلې چارې په آسانه او اغېزناکه توګه پر مخ یوسي.

دویمه لاره د معلوماتو چټکتیا ده. چټکې اداینې د مالي راکړې ورکړې منظم او معیاري ریکارډونه رامنځته کوي، چې د مالي خدمتونو له وړاندې کوونکو او پور ورکوونکو سره مرسته کوي تر څو د اشخاصو او سوداګریزو بنسټونو د نغدو پیسو جریانونه په ښه توګه وارزوي. دا کار هغو شرکتونو او کورنیو ته چې دودیز تضمین (وثیقه) نه لري، مالي تمویل ته د لاسرسي زمینه برابروي؛ البته په دې شرط چې د رضایت، محرمیت او د معلوماتو د مدیریت مناسب چوکاټونه موجود وي.

په تایلنډ کې د پرومپټ‌پې سیستم د دغو اغېزو د پراخې کچې یوه ښه بېلګه ده. د صنعت د اټکلونو له مخې، دغه سیستم کولای شي د هېواد د اټکل شوي ناخالص کورني تولید تر ۲ سلنې پورې اضافي اقتصادي تولید رامنځته کړي. همدارنګه، ورته اټکلونه ښیي چې د برازیل د پیکس سیستم کولای شي تر ۲۰۲۸ کال پورې د ۴۹.۹ میلیارده ډالرو په ارزښت اضافي رسمي ناخالص کورنی تولید رامنځته کړي، په داسې حال کې چې د هند د یوپي‌آی سیستم اقتصادي اغېز د دغه هېواد د ناخالص کورني تولید د ۱.۴ سلنې معادل اټکل شوی دی.

دغه لارې د دولتي اداینو او سیمه‌ییز ادغام له لارې لا پیاوړې کېږي. کله چې دولتي سیستمونه له پیل څخه تر پایه د چټکو اداینو له زېربنا سره ونښلول شي، مالي مرستې او پیسې په واقعي وخت کې کورنیو او شرکتونو ته رسېدای شي. دا چاره د زیان‌منو کورنیو او کوچنیو عرضه کوونکو لپاره د پام وړ ګټې لري، لکه څنګه چې د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال څرګنده شوه.

په سیمه‌ییزه کچه، راپورونه ښیي چې البانیا، مونټینیګرو، شمالي مقدونیه او سربیا په دې وروستیو کې د یورو د واحدو اداینو سیمې سیپا ته له شاملېدو وروسته، د سوداګریزو شرکتونو ترمنځ د پیسو د لېږد منځنی لګښت لس برابره راکم کړی دی. تمه کېږي چې دا چاره به د دغو هېوادونو د وګړو لپاره د لا ډېرو او غوره کاري فرصتونو د رامنځته کېدو لامل شي.

د چټکو اداینو لنډمهاله کارول د اقتصاد په برخه کې هم د پام وړ ظرفیت ښودلی دی؛ لکه څنګه چې د نړیوال بانک ډلې

په یوې تازه څېړنه کې روښانه شوې ده. د عوایدو سمدستي او ډیجیټلي ترلاسه کول د هغو کارکوونکو لپاره چې د نغدو پیسو محدودې زېرمې لري، د نغدینگۍ د کمښت فشار راکموي. په ورته وخت کې، په تکراري ډول د ډیجیټلي ادواینو ترسره کول د راکړې ورکړې سابقه رامنځته کوي، چې له مخې یې پورونو او اعتباري خدمتونو ته د لاسرسي زمینه هم برابره کېدای شي.

د چټکو ادواینو سیستمونه همدارنگه کولای شي د پولي پورې غاړې ادواینو په برخه کې د دوامدارو ستونزو، لکه لوړ لگښت، ټیټ سرعت او محدود لاسرسي په حلولو کې مرسته وکړي؛ لکه څنگه چې د جي شل د پولي پورې غاړو ادواینو په نقشه‌لار کې هم ورته اشاره شوې ده.

## راتلونکي ته کتنه

د هغو هېوادونو لپاره چې د چټکو ادواینو سیستم نه لري، د دغه سیستم رامنځته کول او پلي کول بل مهم گام دی. په هغو هېوادونو کې چې د دغه سیستم کارول لا هم محدود دي، لومړیتوب باید د هغې د کارونې زیاتوالي او د کارونې د ساحو پراختیا ته ورکړل شي.

د دې لپاره چې په ټول ادواینیز سیستم کې پراخې اغېزې رامنځته شي، د تصفیې د نهایي کېدو په اړه د روښانه مقرراتو شتون، د سیستمونو ترمنځ پراخه نښلونه او همغږي، د مصرفوونکو اغېزمن ملاتړ، د درغلیو پر وړاندې د باور وړ میکانیزمونه، د معلوماتو د مدیریت او محرمیت ساتنې اغېزناک چوکاټ، د حکومت لخوا د دغه سیستم منل او کارول او د سوداگرو لخوا یې منل اړین دي.

په دې برخه کې هم دولتي او هم خصوصي سکتورونه مهم رول لري. مرکزي بانکونه کولای شي د اړوند چاپېریال د بېلابېلو برخو ترمنځ همغږي رامنځته او گډ اقدامات تنظیم کړي، چې پکې د ملي ادواینو شوراگانو یا ورته چوکاټونو له لارې د گډو هڅو تنظیم او همغږي هم شامله ده؛ په داسې حال کې چې د نویو خدمتونو د طرحې او رامنځته کولو په برخه کې د ادواینو وړاندې کوونکي بنسټیز رول لري.

د نړیوال بانک ډله د دې آجنډا له پیاوړو ملاتړو څخه ده. د دې ملاتړ په لړ کې د چټکو ادواینو او مالي شمولیت فاسټ پروژې یادونه کېدای شي، چې تر اوسه یې د کورنیو او سیمه‌ییزو ادواینو په برخه کې له ۵۴ پروژو سره مرسته کړې او د نړۍ په ۶۴ هېوادونو کې یې د ظرفیت لوړولو ملاتړ کړی دی.

د دې موضوع عمومي درس روښانه دی: چټکې ادواینې یوازې د دې لپاره مهمې نه دي چې ادواینې گړندۍ کوي، بلکې له دې امله هم مهمې دي چې کولای شي په اقتصادونو کې د نغدینگۍ کچه زیاته، اقتصادونه د معلوماتو له پلوه بډایه او لا ټول‌گډونه کړي.

کله چې چټکې ادواینې په سمه توگه تنظیم او په پراخه کچه وکارول شي، کولای شي له کورنیو سره مرسته وکړي چې خپلې پیسې ژر ترلاسه کړي، شرکتونه خپله کاري پانگه په اغېزناکه توگه وکاروي، حکومتونه ادواینې په لا اغېزمن ډول ترسره کړي او پور ورکوونکي هغو پېربدونکو ته هم مالي خدمتونه وړاندې کړي چې تر دې مخکې له رسمي مالي نظام څخه بې‌برخې پاتې وو.

له همدې امله، چټکې ادواینې باید یوازې د ادواینو په سکتور کې د یوه محدودې اصلاح په توگه ونه گڼل شي، بلکې د عصري اقتصادي زېربناوو د یوه بنسټیز عنصر په توگه باید ورته وکتل شي.

**لیکوالان:** هولټي بانکا او بیاجیو بوسونه

**ژباړونکی:** عین الله عیان، د افغانستان بانک د ژباړې بورډ ارشد مدیر

---

د مقالې لینک:

1- https://blogs.worldbank.org/en/psd/how-fast-payment-systems-drive-economic-growth-and-financial-inc

ditures to measurable outcomes and national priorities. These reforms resonate with global experiences.

Performance-linked spending reviews would further align Afghanistan's expenditures with strategic objectives. Instead of allocating funds based on tradition or inertia, resources could be directed toward sectors with the highest social and economic returns such as education, health, and infrastructure. Sweden's performance-based budgeting offers a model, ensuring that every unit of currency spent is justified by results. The World Bank's evaluations of procurement reform confirm that such systems accelerate delivery and improve value-for-money, while OECD and ADB studies highlight their role in strengthening institutional credibility and fiscal discipline.

By adopting these reforms, Afghanistan could achieve more resilient growth even within constrained fiscal limits. Infrastructure projects would be delivered on time, education investments would yield tangible improvements in literacy and skills, and health expenditures would reach those most in need. More importantly, transparent and digitalized systems would foster public confidence in financial institutions, reinforcing the legitimacy of fiscal policy. In this way, procurement and efficiency reforms become not only technical adjustments but strategic imperatives for Afghanistan's path toward resilience, inclusion, and sustainable development.

Anwar Ullah Hayat

Sr. Publications Manager, DAB

**References:**

1. International Monetary Fund. (2025, October 7). *Spending smarter to boost growth*. IMF Blog. Retrieved from https://www.imf.org/en/blogs/articles/2025/10/07/spending-smarter-to-boost-growth
2. World Bank. (2025). *Public finance reviews: Spending efficiency*. Washington, DC: World Bank Group.
3. World Bank. (2024). *Making procurement work better: Evaluation of the 2016 procurement reform*. Washington, DC: Independent Evaluation Group, World Bank.
4. Organisation for Economic Co-operation and Development. (2023). *Public spending efficiency and transparency in procurement*. Paris: OECD Publishing.
5. Asian Development Bank. (2024). *Digital procurement reforms for fiscal discipline in developing economies*. Manila: ADB.

of digitalization, Sweden highlights the importance of performance-linked accountability, and Togo proves that even in resource-constrained settings, transparency can deliver real improvements. For Afghanistan, these lessons are directly relevant. Digital tools can reduce leakages, performance reviews can align spending with priorities, and transparency can rebuild trust in financial institutions.

**Why Procurement Matters Most**

Procurement represents one of the largest channels of public expenditure, often accounting for investments in infrastructure, health, and education. These sectors determine long-term growth and social well-being. Inefficiencies in procurement, whether through delays, corruption, or lack of competition, translate directly into lost opportunities for development. A stalled road project means communities remain disconnected, a delayed hospital contract leaves citizens without essential care, and inflated costs drain resources that could have been used for schools or clean water. In this way, weak procurement systems become silent barriers to progress.

Transparent procurement systems, supported by digital platforms, offer a powerful solution. By ensuring competitive bidding, they reduce leakages and accelerate project delivery. Digitalization introduces traceability, making every stage of the procurement cycle visible and accountable. This not only curbs corruption but also builds public trust, as citizens can see that resources are being used fairly and effectively. The World Bank's evaluations of procurement reform show that e-procurement platforms shorten turnaround times and increase competition, while OECD studies emphasize transparency as a cornerstone of institutional credibility. The Asian Development Bank adds that in developing economies, digital procurement reforms are essential for fiscal discipline and reducing corruption.

**Relevance for Afghanistan**

Afghanistan's fiscal challenges such as fixed salary expenditures, infrastructure gaps, and narrow fiscal margin make efficiency reforms not just desirable but essential. A significant portion of public resources is absorbed by recurrent expenditures, leaving little room for investment in growth-enhancing sectors. This imbalance constrains the government's ability to respond to social needs and undermines long-term development. In such a context, reforms that improve efficiency can act as multipliers, stretching scarce resources to achieve greater impact.

Introducing e-procurement platforms would be a decisive step toward reducing leakages and strengthening oversight. By digitalizing procurement processes, Afghanistan could ensure competitive bidding, shorten project timelines, and minimize opportunities for corruption. Digital budgeting tools, meanwhile, would allow policymakers to allocate resources with greater precision, linking expen-

consensus that efficiency reforms are not marginal adjustments but strategic imperatives. Digitalization and transparent procurement transform fiscal systems from vulnerable channels of leakage into engines of growth. For Afghanistan, where fiscal space is narrow and demands are immense, adopting such reforms could mean achieving more resilient infrastructure, stronger education outcomes, and greater public confidence in financial institutions. By embedding efficiency into the very fabric of spending, Afghanistan can ensure that every Afghani invested contributes to resilience, inclusion, and sustainable development.

**Global Lessons in Reform**

Examples from Estonia, Sweden, and Togo illustrate how digital platforms and transparent procurement practices can reshape fiscal outcomes in very tangible ways. Estonia's pioneering e-governance model has transformed the way citizens interact with the state. By digitizing tax filing, licensing, and procurement processes, Estonia reduced administrative costs and eliminated layers of bureaucracy. This digital backbone not only streamlined public services but also created a culture of accountability, where every transaction leaves a traceable record. The result has been faster service delivery, lower costs, and stronger oversight making Estonia a global benchmark for digital fiscal management.

Sweden's systematic spending reviews provide another instructive model. Rather than treating budgets as static allocations, Sweden introduced performance-based budgeting, where expenditures are tied to measurable outcomes. Ministries must justify their spending by demonstrating results, whether in education attainment, healthcare efficiency, or infrastructure delivery. This approach ensures that every krona spent is aligned with national priorities and produces tangible benefits. Over time, it has fostered a culture of evidence--based policymaking, where fiscal decisions are guided by data and performance rather than tradition or political pressure.

Togo, meanwhile, offers a compelling example from a developing economy. Faced with limited fiscal space and governance challenges, Togo advanced fiscal transparency reforms that strengthened procurement processes. By introducing competitive bidding and publishing procurement data, the government curbed inefficiencies and reduced opportunities for corruption. These reforms improved the efficiency of public spending and also reinforced public confidence in government institutions. Citizens could see that contracts were awarded fairly and that resources were being used responsibly, which in turn strengthened trust in the state.

Taken together, these examples demonstrate that efficiency gains are not abstract ideals but achievable results when governments commit to systemic reform. Estonia shows the power



# Driving Fiscal Efficiency through Digitalization and Transparent Procurement

Public spending is often judged by its volume, yet the true measure of fiscal strength lies in how effectively resources are deployed. The IMF's recent analysis underscores that governments can achieve far greater impact by focusing on efficiency rather than expansion. Among the most transformative levers identified are digitalization and transparent procurement systems, which not only reduce waste but also enhance accountability and citizen trust. In countries where fiscal space is limited, these reforms serve as multipliers, ensuring that every unit of currency spent delivers maximum social and economic return.

The World Bank reinforces this view through its Public Finance Reviews and procurement reform evaluations, showing that e-procurement platforms reduce leakages, accelerate project delivery, and strengthen oversight. Its 2016 procurement reform, reviewed in 2024, demonstrated that digital tools can shorten procurement cycles and increase competitive bidding, proving that efficiency is not just theoretical but measurable in practice. Similarly, the OECD highlights that transparent procurement and digital fiscal management are essential for building trust in institutions, while the Asian Development Bank emphasizes that digital procurement reforms in developing economies are critical for fiscal discipline and reducing corruption.

Together, these perspectives form a global

# نمونه های بانکنوت های مندرس

## بانکنوت‌های که دارای خصوصیات ذیل باشند، در جمع بانکنوت‌های مندرس محسوب و قابل تعویض می‌باشند:



۱– بانکنوت‌های که شکل ظاهری آنها تا حد زیاد از اثر استفاده تغییر کرده باشد.



۲– بانکنوت‌های که یک حصه شان قطع شده باشد.



۳– بانکنوت های که در روی آنها نوشته زیاد شده باشد و از اثر آن شکل ظاهری بانکنوت تغییر کرده باشد.



۴– بانکنوت‌های که علایم امنیتی آنها تا حد زیاد از بین رفته باشد اما اصلیت آنها قابل شناسایی باشد.



۵– بانکنوت‌های که از اثر استفاده زیاد فرسوده/شُل شده و قابل شمارش در ماشین‌های شمارش نوت نباشد.



۶– بانکنوت‌های که پارگی‌های زیاد داشته و چندین قسمت آن اسکاشتیپ شده باشد.

**هموطنان عزیز می‌توانند این نوع بانکنوت‌ها را در مرکز و ولایات کشور در نمایندگی های د افغانستان بانک و تمامی بانک‌های تجارتی تسلیم نموده و در عوض بانکنوت های سالم دریافت نمایند.**

در صورت برخورد به مشکلی، شما می توانید شکایت خویش را از طریق ایمیل آدرس های info@dab.gov.af و customer.protection@dab.gov.af ، شماره هـای تلیفون ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ و ۰۲۰۲۱۰۴۱۴۶ و یا شماره وتس اپ ۹۳۷۹۸۷۰۳۷۵۵+ با بخش حقوق مشتریان مالی د افغانستان بانک ثبت نمایید. ما به شکایت شما در اسرع وقت رسیدگی می نماییم.


سپما د عاید هغه برخه ده چې نه
مصـــرفیږي او د راتلونکي لپاره
ساتل کېږي تر څو د اړتیا پر مهال
ترې کار واخیستل شي.